افغانستان اسلامی جمهوری دولت

دلـــــــــــوړو زده کـــــړووزارت

د اراکوزیا د لوړو زده کړو موسسه

دحقوقو اوسیاسی علومو پوهنځی

# مالي حقوق

دوهم ټولګی .لمړی سمستر

کال:۱۳۹۷ هـ ل

استاد .سید عبدالقیوم (حکمت)

دمحصل نوم

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد الله وکفی وسلام علی عباده الذین صطفی وبعد

لمړی څپرکی

ما لي حقوق

ما لی حقوق دافاقی حقوقو یو شعبه یا څانګه ده




ا-اساسی حقوق ۲ مالی حقوق ۳ دجزا حقوق ۴ داری حقوق ۵ دکار حقوق

که څه هم د افاقی حقوقو ویش او تعریفونه مو په مبادی حقوقو کی لوستلی دی یوځل بیا په لنډ ډول څو برخی تعریفووترڅو معلومه سی چی مالی حقوق دحقوقو په کومه څانګه پوری اړه لری

افاقی حقوق . افاق په لغت کی اجتماع یا ټولنی ته وایی

په اصطلاح کی افاقی حقوق هغه اجباری قواعد دی چی دانسانانو دژوند محتلف اړخونه په ملی او بین المللی سطحه ترتیب او تنظیموی

ملی حقوق . هغه قواعد او مقررات دی چی دانسانانو اړیکی په ملی سطحه یو له بل سره ترتیب او تنظیموی کوم خاریجی عنصر په کی وجود ونلری

عمومی حقوق . هغه قواعد دی چی د فرد بیلای بیلی رابطی له دولت سره ترتیب او تنظیموی

دمالی حقوقو تعریف :

۱- مالی حقوق دهغه قواعدو اومقرراتو مجموعه ده چی دولت دهغه په اساس د خګو څخه (مستقیم او غیر مستقیم) مالیات وغواړی .

۲- مالی حقوق هغه قواعد دی چی عواید او لګښتونه تنظیوی او یا هم

مالی حقوق دهغه قواعدو اومقرراتو څخه عبارت دی چی دمالیی ( ټیکس) پوری مربوط موضوعاتو نه بحث کوی .

او ورستی تعریف چی نسبتا ښه به وی هغه دادی

مالی حقوق هغه علم دی چی عواید او لګښتونه (مصارف) تنظیموی او د دولت دمالی منابعو لپاره لازم قواعد وړاندی کوی.

دمالی حقوقو په اړه عمومی څرګندونی.

د مسیحت دفلسفی له مخی مالیه دګناه څخه پرته غلا ده دغه نظریه دتوماسفون اکوین له طرفه ارایه سوی ده

دامریکا هاورډ پوهنتون استاد پروفیسور جیمز لیکلی

عمومی مالیه یو انتفاعی برسی ده چی دفعالیتونو او لګښتنود ترسره کولو هغه رویشونه یا تګ لاری چی دولت یی دخپل اړتیاوو د پوره کولو لپاره تر سره کوی. او ددولت دمالی سرچینو څرنګوال څیړی

یو ایرانی عالم علیرضا بایکلور بیا وایی چی مالی حقوق د وګړو په دارایی پوری مربوط قواعد دی او څلور خاصیتونه لری .

۱-یا به نقد روپی وی او یاپه روپو بدلیږی

۲- قابل دنقل او انتقال به وی

۳-قابل داسقاط به وی

۴-. قابل دتوقیف به وی

دیادونی وړده چی یو شمیر علماء او پوهان مالی حقوق د اداری حقوقو یوه څانګه ګڼی دوی وایی چی اداری نظام کومی چاری ترسره کوی مالی حقوق دهغه یو جز دی ولی زیات شمیر پوهان بیا دمالی حقوقو په استقلالیت باندی قایل دی خو پوښتنه داده چی آیا ددی دوو څانګو (اداری او مالی ) تر منځ اړیکه سته نو په دی اړه تل ځواب مثبت دی.

درسته ده چی مالیاتی مقرراتو او دمالی دمقدار ټاکل د دولت په لاس کښی دی اما دخلکو مالی توانایی اورضایت په دی برخه کښی مهم شرط ګڼل کیږی

دویم څپرکی :

دتاریخی سیرپه اږدو کښی دمالی حقوقو تکامل یا رشد

## (۱) . پخوایی دوره (له میلاد څخه دمخه )

په دی پړاو کښی پخوانی یونان روم مصر او عراق پخوانی حالت دبحث وړ دی.

## ۱ . یونان:

په پخوانی یونان که څه هم یو شمیر ښاری حکمتونه موجود وه خومالی او اداری چاروته خاصه توجه نه درلوده پوهانودمالی مسایلو سره بی علاقګی ښول او په هغه وختوکښی دښار او

حکمومت لګښتونه دګمرکی عوایدو ځخه چی دبهر نیانو ځخه به اخیستل کیدله تمویل کیده او هم به دولت دانحصاری منابعو ځخه لکه دکانونو استخراج او دجرایمو ځخه عایدات ترلاسه کول په دغه دوره کښی لومړنی اثر چی مالی حقوق یی تر ځیړنی لاندی ونیول ګزنفون Xenophon و چی په خپل اثر (داتن دښار عواید ) کښی یی په دی موضوعاتو بحث کړی چی بیاوروسته دارسطو په واسطه په اقتصادی او مالی برخو کښی کتابونه ولیکل سول.

ګزنفون په خپل کتاب کښی په دی باور دی چی دولت دعوایدو دلاسته راوړلو لپاره باید دکشتی چلولو دستګاه ولری ترڅو دګمرک او دکشتیودتګ راتګ ځخه عواید لاسته راوړی.

ارسطو وایی .چی دیو منطقی مفهوم له مخی مالیه د هغی فداکاری ځخه عبارت ده چی خلګ یی د دولت دوظیفو دممکن کولو په منظور په غاړه اخلی

## ۲ . روم :

په روم کښی دعوایدو زیاته برخه دفتوحاتو اوباج او خراج له لاری تامیند ل نوپه دی وجه حکومتی موسساتو دعامه مالیی دراتولو سره دومره علاقه نه درلودل نوویلای سو چی په روم کښی دمالی حقوقو مسایلو نظر لاندی دوو دلایلوته ډیر اهمیت نه درلودی:

۱. دامپراتوری ډیر لګښتونه دفتوحاتو ځخه لاس ته راتلل .

۲ . دروم متفکرینو دحقوقو او دهغه دپراختیا په برخه کښی ډیره پاملرنه کول .

## ۳ مصر:

هنری فرانکفورت (Henri Frankfort) په نږدی ختیځ کښی دتمدن درامنځته کیدو په اړه په خپل کتاب کښی داسی لیکلی چی ۲۴۰۰ ق م کال کښی په مصر کښی به چی کله غنم ورسیدل نومفتشین به ورغلل او دفصل براورد یاسنجش به یی وکړتر څو دکتګوری دمعلومولو وروسته به یی دمالیاتو راټولو پیل کړل همدارنګه په ویالو څاګانو ونو او

محصولاتو لکه شات تیل شراب سبزیجات او ماهیانو څخه به هم اخستل کیده لیون ډوالی Leonard wally په خپل کتاب (دتمدن پیل ) کښی لیکی چی (۱۰۰۰ او ۲۰۰۰ق م ) په مصر کښی دمالیی راټولونکی مامورینوپه مالیی ورکوونکو باندی ډیر ظلم او تیری کاوه چی داکار بیا په ۱کښی دسلطنت دخاندان ۱۸ پاچا اصلاح کړ.

## ۴ . پخوانی . بین النهرین (عراق)

په عراق کښي هم دمالیی داخستلو ډول ډول قوانین موجوده وه لکه سرټکس (pool tax) هم پر خلکوحواله کیده چی ماشومان به دتولد په لومړی ورځ ثبت کیدل او ټکس به ورڅخه اخستل کیدی دنقدی اموالو اوطلاټکس هم اخیستل کیدی.

**دقرار دادی تیوری** مطابق چی دهغه ځخه روسو او مونتسکو هم دفاع کړی ده وایی. افراد باید دهغو خوندنو په بدل کی مالیه ورکړی چی د دولت دخدماتو ځخه یی لاس ته راوړی

دبیمی د تیوری له مخی هوپسر روتیک له خوایی تصدیق سوی دی وایی . چی مالیه دهغی جایزی ځخه عبارت ده چی د دارایی دحمایت په بدل کی یی د افرادو ځخه اخستل کیږی

## (۲) دفیوډالیزم یا ځمکوالی دوره

دتاریخ په حواله دفیوډالیزم په لومړی مرحله کښی دفیواډالانو (مځکوالو) په لومړی مرحله کښي دفیوډالانو ترمنځ سوداګریزی اړیکی نه وی ، پیسودنه استمعال په وجه دفیوډالانو په منځ کښی دتبادلی اړیکی په یوه محدوده ساحه کښی په طبعی ډول (جنس بدلی) صورت نیوی بیا وروسته په منځنیویو پیړیو کښي ښارونو یو ځه پرمختګ وکړ او دجنس تبادله په پیسوباندی مروج سوه ، دفیوډالیزم به دوره کښي دمالیی اخیستل هغه وخت منځته راغلل چی تولید کوونکو په خپله دتولیدپه ساحه کښی پرمختګ وکړ خود کسبګرو موجودیت بیادمالیی په ورکړه کښی شدت راوستی داهغه وخت وچی ارستوکراتان روحانیون او عساکر دمالیی له ورکړی ځخه معاف وه ، مګر وروسته بیا دسلطنت دپراخوالی پراساس زیاتی مالیی پرخلکو وضع شوی چی دا مالیات پرمځکو کورونو او

کسب ګرو وضعه سول چی وروسته بیا ګمرکی محصول او بیا دصادارتو محصول هم وضعه سو چی بالاخره دبورژوازی (پانګوالی) سیستم په راتګ سره فیوډالیزم ختم سو.

## (۳)دکپیټالیزم (پانګوالی دوره )

لومړنی لیکوال چی د۱۶ میلادی پیړی په اخر کښی یی دمالی مسایلو په اړوند لیکنه وکړه team bodin و په اروپا کښی دکپیټالیزم (پانګوالی)دمرحلی دپرمختګ په دوره کښی اقتصادی بیلابیل کتابونه لیکل سوی چی ددی لیکوالانو ترمنځ دمالیی دورکړی به هکله بیلابیل نظریات لری چی په لاندی ډول وړاندی کیږی.

## 1 . دمرکانټلسټ (سوداګرانو )مکتب School of Mercantilist

## یا دسوداګری انډول درامنځ ته کولوسیاست

ددی مکتب لوی پوهان ژان بویدن توماس من اوسرولیام دی چی لومړی کتاب په دی اړوند دژان بویدن د جمهوریت د شپږ رسالو په نامه دی چی ډیری موضاعاتو یی سیاسی او حقوقی دی.

دامکتب په دی نظریاتو باور دی چی د دولتونو دثروت او دارایی سرچینه سره زر او سپین زر دی چی دهغوی په اختیار کښی وی او دولت ته یی داتوصیه کوله چی دخپل سرو او سپینو زرو

دډیروالی لپاره خپل صادرات او واردات زیات کړی دصادارتو دزیاتوالی په خاطر داخلی تولیدات حمایه سی لنډه داچی دولت باید په مالی چارو کښی مداخله وکړی نو په دی سبب دمالی داخیستلو له لاری خپل ځانته ثروت او پانګه پیداکړی.

توماس من وایی چی مالیات باید دخلګو دقدرت او توان په اندازه واخیستل سی ویلیام وایی دولت خپل عواید دمستقیمو او غیر مستقیمو مالیاتوله لاری باید تامین کړی ولی نور مرکانتلستی پوهان بیا وایی چی دولت باید خپل عواید دګمرکی محصولاتو له لاری لاسته راوړی.

## ۲. فزیو کراتانFezukrat

فزیوکراتان زموږ په ژبه په طبیعت پالو ژباړل کیږی دوی دیوانسان حرکات دیو سلسله طبعی حرکتونو تابع ګڼی چی انسان باید د خپل ژوند دتنظیمولو لپاره جبرا دهغه پیروی وکړی ډاکتر ګینی ددی مکتب مشریا رهبردی تر څنګ یی نورپلویان میرابو دوپن دونمور او دفرانسی د ۱۶ لویی دمالی وزیر تورګودی.

دامکتب ځانته ځانګړی ځانګړتیاوی لری چی په لاندی ډول دی.

دی مکتب دلومړی ځل لپاره سیاست او اقتصادی عمل سره جلا کړل او هغه یی په مستقیل ډول مطالعه کړل.

دی مکتب دمرکانټلستانو په خلاف اقتصاد دسیاست وسایل ونه ګڼل.

دطبعی قوانیونو څخه سرغړاوی کولای سی انسانی ټولنه له ډیرو ستونزو سره مخ کړی.

په کسب او کار کښی د دولت نه مداخله او په سوداګری کښی ازادی ددی مکتب دنظریاتو اساس ټاکی.

دبازار انډول یا تعادل په طبعی ډول منځ ته رازی ددولت مداخلی ته ضرورت نسته

فزیو کراتان په دی باور دی چی دټولو پانګو سرچینه مځکه ده نو باید ټوله مالیات دمځکی څخه واخیستل سی او بس دوی د دولت عواید دګمرکی محصول له لاری نه منی.

## ۳. کلاسیک مکتب School of Clissic

ددی مکتب بنسټ ایښودونکو ته داقتصاد دعلم موسیسین ویل کیږی.

ادم سمیت Adam Smith دملتونه او د دولت مسایل کتاب په لیکلو سره په ۱۸ میلادی پیړی کی د اقتصاد په علم کښی یو انقلاب رامنځته کړ چی اوس ادم سمیت داقتصاد دعلم دپلار په نامه یادیږی ددی مکتب نور مشهور پلویان رایکارډو رابرت مالتوس او جان استوارټ میل دی. دکلاسیکانو پلویان کار

دسروت سرچینه ګڼی څومره چی په یوه ټولنه کښی کار ډیر وی په همغه کچه ټولنه صروتمنده (بډایه)کیږی.

کلاسیکان دعرضه او تقاضه په قانون باور لری په ډیرو مواردو کښی یی دعرضه او تقاضه مکانیزم ټاکلی دی.

کلاسیکان په اقتصادی چارو کښی د دولت دمداخلی سره مخالف دی.

## ۴ . دسوسیالیزم مکتب School of Socialism

سوسیالیزم یو سیاسی اقتصادی مفکوره ده په یو ټولنه کی د یو اجتماعی نظم دجوړیدلو پر اساس او مالکیت د له منځه وړلو او ټولنیز یوالی څخه عبارت دی او په داسی یوټولنیزنظام کی دټولنی ټول قشرونه سره برابر وی او دټولنی لاس ته راوړل شوی ګټه باید پر ټولو باندی مساوی وویشل سی :

فردی ازادی ګټه پالنه دکار او کسب مطلقه ازادی په ټولنیز عدالت کښی نه پاملرنه رامنځته کوی چی دغه نه پاملرنه په اقتصادی او ټولنیز عدالت کښی نا مطلوبی پایلی منځته راوړی په فرانسه کښی دلوی انقلاب وروسته دصنفی سازمانونو په له منځه وړلو سره فرد یواځی د دولت په مقابل کښی ودریدل پانګوال(سرمایداران ) دپانګی په ډیروالی اخته سوه دی چی باید ډیره ګټه په لږ لښګت لاسته ته راوړی سوسالیستان دکلاسیک

مکتب عمده نقیصه داخلاقی اصولو څخه په لیری والی کښی بولی.

## ۵. اسلامی مالی نظام

مخکی تر دی چی دمالی حقوقو سرچینی مطالعه کړو مناسبه به وی چی تر ټولو مخکی داسلام مبارک دین کښی دمالی حقوقو په سرچینو باندی بحث وکړو دیوه اړخه به داسلام مبارک دین کښی دمالی حقوقو سرچینی وپیژنو دبله اړخه به دنورو لودیځو مکتبونو دلوستلو ترځنګ په دی پوه سو چی په اسلام مبارک دین کښی دمالی حقوقو اساسات څه دی؟

اسلام یو بشپړ نظام دی چی دنوروربرخو ترڅنګ دسیاسی او اقتصادی برخه کی هم بشپړ قوانین لری ان اسلام مبارک دین دمالی سرچینو معلومولو سره دکارولو ځای هم ښیی داسلام له نظره دمالی حقوقو او عامه مالی مطالعه هغه وخت ډیره اړمنه سوه چی اسلامی هیوادونو غوښتل خپل مالی قوانین داسلام له روح سره سم جوړ کړی خو البته داسلام مبارک دین دمالی سرچینو په مشرح ډول لوستل یو بل مضمون ته اړتیا لری چی انشاء الله ستاسو به یی داسلام په اقتصادی نظام کښی ولولی خو دلته یی دنومونی په توګه غټ ټکی رااخلو چی دومره پوه سی

چې داسلام مبارک دین اسلامی حکموتونو ته مالی سرچینی او هم یی دپلی کیدو لاری چاری مشخصی کړی دی:

مالی سرچینی داسلامی به مبارک دین که دا دی:

۱.زکات : چې پرمسلمان بالغ عاقل دنصاب رسیدلی تصرف خاوندوی لکه طلا او نقره حیوانات اوغلی .

۲. خمس :خمس پردوه ډوله دی یو ۱- پینځمه برخه ده چې په کانونو جواهراتو او داسی نور کښی اخیستل کیږی.۲- بل خمس دادی چې کله به دجهاد په دوران کی د کفارو څخه څه شی په غنیمت ونیول سو نو دهغه خمس به یی واهل نبی ص او فقرا ته ورکول کی دی

۳. انفال وفی : هغه اموال او ملکیتونه دی چې خاوندیی پیغمبر او امام دی لکه ځنګلونه هغه اموال چې وارث نه لری او داسی نور.

۴. جزیه او خراج: جزیه او خراج په حقیقت کښی دغیر مسلمانانو څخه دزکات او خمس پرځای اخیستل کیږی چې جزیه له افرادو او خراج له مځکو څخه اخیستل کیږی.

۵. کفارات : دهغه نقدی جریمی دی چې په جرم له مرتکبو مسلمانانو څخه اخیستل کیږی.

۶. طسق : داهغه خراج دی چی په کرنیزو مځکوکی په هر جریب باندی ټاکل کیږی.

۷. عشر : په کرنیزو محصولاتو کښی دمسلمانانو څخه لمسه برخه اخیستل دی.

نوټ : دزیاتوتو توضیحاتو په خاطر داسلام اقتصادی نظام کتاب ولولی چی د دوکتور محمود الخطیب لیکنه ده چی پوهندوی مولوی محمدشریف رحمانی پښتوته ژباړلی دی.

په اخر کی ویلای سو چی د مالیی اخستل په یو هیواد کی پدی شرط روا دی چی خدمات وړاندی کړی که مالیه اخستل کیده او عامه خدمات یی نه تر سره کول دغه ډول مالیه اخستل روانده

## دریم څپرکی:

## دمالی حقوقو منابع (سرچینی)

مالی حقوق هم دنورو علومو په څیر ځانته منابع لری چی دامنابع دمالی حقوقو قواید جوړوی موږ ورڅخه په لاندی ډول یادونه کوو.

## (۱).قانون

لکه څنګه چی پو هیږوو دقانون په اړه موپه مبادی حقوقو کښی اوږدبخث کړی دی ددی لپاره چی یو ځل مابیا وربانډی اذهان تازه سی باید ووایو چی.

قانون دلاتنی ژبی یوه اصطلاح ده د cannon څخه اخیستل سوی کم چې دخط کش مانا ورکوی هر هغه څه سموی چې کاږه وی په اصطلاح زموږ داساسی قانون له نظره قانون ټولو هغه اسنادوته وایی چې د دوو مجالسو له تصویب څخه تیرسوی یو او دولسمشر لخوا توشیح سوی وی .(اساسی قانون ۹۴ ماده )

معمولا قوانین په دووبرخو ویشو چې عبارت دی له اساسی قانون او عادی قوانینو څخه چې له دی ډلی مالی حقوقو لومړنی منبع اساسی قانون دی.

## لومړی فقره اساسی قانون :

دهر هیواد اساسی قانون نظر دخپلی ټولنی عقیدی عرف اخلاق او ټولنیزو کړو وړو ته توپیرلری دبیلګی په توګه دافغانستان د ۱۳۸۲ ل کال مصوب اساسی قانون په خپله دریمه ماده کښی وایی.

په افغانستان کښی هیڅ قانون نسی کولای چې داسلام دسپیڅلی دین دمعتقیداتو او احکامو مخالف وی.

دافغانستان د اساسی قانون په حکم دمالی چارو دلاتنظیم په موخه نور عادی قوانین جوړیږی.

دمالی حقوقو دیوی مهمی سرچینی په توګه دافغانستان داساسی قانون ۴۲ ماده رااخلو :

هر افغان مکلف دی دقانون دحکمونو سره سم دولت ته مالیه او محصول ورکړی.

هیڅ راز مالیه او محصول دقانون له حکمه پرته نه وضع کیږی.

دمالیی او محصول اندازه او دورکړی ډول دټولنیز عدالت په راعایت دقانون په وسیله ښوول کیږی.

داحکم دبهرنیو کسانو او موسسوپه برخه کښی هم تطبیق کیږی.

هرډول ورکړه سوی مالیه محصول او عایدات دولتی واحد حساب ته داخلیږی.

## دویمه فقره :عادی قوانین

داچی عموما دهر هیواد په اساسی قانون کښی په کلی موضوعاتو بحث کیږی په دی برخه کښی کلی قواعید وضعه کیږی نوپه همدی شان زموږ په ګران هیواد کښی هم داساسی قانون ترڅنګ دمالی چارو دلاښه تنظیم په موخه نورعادی قوانین وضعه سوی دی خوادچی په ټوله کښی داقتصادی مسایلو اړوند قوانین خورا زیات دی نو موږ هم یواځی دمالیی عوایدو ګمرکی محصولاتو پوری اړوند قوانین چی زموږ دبحث سره ډیر تړاو لری درپیژنو:

## ۱. پرعایداتو باندی دمالیاتو قانون

پرعایداتو دمالیاتو قانون دافغانستان داساسی قانون د ۴۲ مادی د حکم له مخی دملی شورا دمجلسونو دګډپلاوی (شپږشپږ. غړی) د ۱۳۸۷/۱۲/۱۱ نیټی د ۱۱۷ پریکړی پربنسټ په ۱۷ فصلونو او ۱۱۳ مادو کښی تصویب او دولسمشر لخوا د ۱۲۷ ګڼه فرمان پر بنسټ په ۱۳۸۷/۱۲/۲۷ نیټه او داساسی قاون د ۶۴ مادی او ۱۶ فقری د حکم له مخی توشیح سوی دی .

## ۲.دګمرکونو قانونcustoms law

دګمرک تعریف ، ګمرک دیو دولتی اداری څخه عبارت دی چی صادراتی او وارداتی توکی او مسافرین دتقنینی اسنادو له رویه کنترول او االجرا کیږی ،

دګمرکونو قانون دافغانستان داساسی قانون د دوه څلویښتمی مادی پربنسټ دریس جمهورعالی مقام د ۳ – ۱۳۸۴/۱/۱۰ګڼه فرمان پراساس توشیح سوی دی اود۱۳۸۴/۱/۱۵ نیټه کښی دعدلی وزارت لخوا په رسمی جریده کښی خپور سوی دی.

## (۳).قضایی رویه

دهیوادمحاکم چې کومې پریکړې دمالي مسایلو اړوند صادروي او بیاپه نورو محاکمو کښې تکراریږي هم دمالي حقوقو دیوې منبع په توګه ورڅخه استفاده کیږي.

## (۴).نورمنابع

نورې منابع لکه عرف او عادات که څه هم ډیر تاثیرات نه لري ولې په مخ پرووده هیوادونو کښې کیدای سي دکاردقانون مهمه برخه جوړه کړي چې مالي حقوقو کښې مهم رول لري

## ب :بهرنی سرچینه

## (۲).نړیوال تړونونه

دټولو هیوادونو اساسي قوانین نړیوالو تړونوو ته چې یو خواته یې همدا هیواد وي الزمیت ښې زموږ اساسي قانون هم همداکارکوي داساسي قانون ۷ ماده صراحت لري.

دولت ملګرو ملتونو دمنشور دبین الدول دنړیوالو میثاقونو چې دافغانستان له هغو سره تړاو لري او بشري حقوقو دنړوالې اعلامې رعایت کوي.

# څلورم څپرکی :

## عامه لګښتونه او عامه عواید

په دی څپرکی کښی به انشاءالله په عامه لګښتونو او عامه عوایدو بحث وکړو کوم چی دمالی حقوقو بنسټیز موضوعات تشکیلوی.

## لومړی مبحث : عامه لګښتونه

کلاسیک علماءوو عامه لګښتونه دخپل منطق په رڼا کښی څیړلی دی د دوی په اندچی مالی علم په یو فارمول کښی خلاصه کولای سو :چی عامه لګښتونه موجود دی باید پوره سی.

همدادلیل دعامه ورکړی او هغه پورونو په اړه چی دولت یی اخلی هم صدق کوی دولت هم دافرادوپه څیرچی هرکله لګښتونه دعامه منابعو څخه نسی پوره کولای نودپورونو په اخیستلو اړ کیږی کله کله دولت دلګښتونو او عوایدو دبیلانس دساتلو په عرض دهغه لګښتونو څخه ډډه کوی کوم چی په بودیجه کښی نه وی بیش بینی سوی.

**تعریف:**عامه لګښتونه عبارت دهغه اجناسو او مصرفی خدماتو څخه دی چی دولت یی دخپل سیاسی اقتصادی او ټولنیزو فعالیتونو په برخه کښی سرته رسوی.

دکلاسیک علماء و له امله دولت دازاد اقتصاد نظریی پر بنسټ دعامه اړتیاووی دپوره کولو مسولیت په غاړه لری له همدی

کبله یی هغه مهال اساسی لامل داوچی له عامه عوایدو څخه موخه دعامه لګښتونو په لازمه توګه پوره کول وترڅو هغه چاری چی دولت یی مسولیت په غاړه لری په سالمه توګه ترسره کړی ددی نظریی پربنسټ دولت دکلنی توزاون درناوی کوی او مکلفین په دی نه اړباسی چی عامه لګښتونو څخه لوړه مالیه ورکړی.

داپه داسی حال کښی ده چی معاصر قانون دعام مالیاتی نظام لګښتونه او عواید دواړه ځیړلی دی ودی برخوته پاملرنه هغه وخت لازیاته سوه چی ددولتتونو په لګښتونو کښی بی کچی زیاتوالی راغی او اقتصادی فعالیتونه زیات سول نوکله چی درکودغتی ستونزی رامنځته سوی او بازارونه دسترو چیلنجونو سره مخ سوه نو عامه مقایسه چی په کلنی توزاون ولاړه وه خپل ارزښت له لاسه ورکړ چی ددی ځینی لاملونو په لاندی ډول دی

١. د دولت لګښتونه یواځي ترعادی خدماتو پوری محدودنه سول بلکه ه ددولت اقتصادی شکل تغیره وکړه.

٢. په لګښتونو کښی ډیروالی دوام وکړ.

٣. تولنیز نظر داوچی دعامه عوایدو ډګر باید دپراخ سی ترڅو اقتصادی او ټولنیزو ډګرونو ته شامل سی او یواځی ترعامه لګښتونو پوری منحصرنسی.

**لومړی فقره:**اداری او اجرایوی لګښتونه

هغه لګښتونه چی دمنقولو او غیرمنقولو اموالو دساتنی او دعملیاتو او نظارت لپاره لازمی اسانتیاوی برابروی اداری او اجرایوی لګښتونه ګڼل کیږی چی بیلابیل ډولونه په برکښی نیسی چی عبارت دی له:

۱.دماموریت ،حمل (لیږد،رالیږد)او ارتباطاتو پوری اړوند لګښتونه

۲.اجاره چی عبارت ده دافرادو دهغه تاسیساتو مځکی ساختمان او داسی نورڅخه چی دولت ورڅخه ګټه اخلی چی ددغه ثابتی اداریی څخه داستفادی حق په اجاری باندی تفسیریږی.

۳. عام قراردادی خدمات : ټول هغه خدماتی لګښتونه چی دولت یی دخصوصی سکټور یابل دولت غوښتنه کوی چی په دی کښی دتعمیراتو تاسیساتو ساتنه تغیرات مطالعاتی او ځیړنیز لګښتونه راځي .

۴.دخاص قراردادی خدماتو لګښتونه :په دی برخه کښی حرارتی سوند دنقلیه وسایطوتیل او دسوند مواد دماشین الاتوسوند دبریښنا او اوبو لګښتونه راځي .

۵. دلګښت وړموادو او لوازم : په دی برخه کښی دومداره یاکم دوامه توکی یا اجناس راځي چی په اسانی سره استهلاکیږی.

## دویمه فقره:عمومی اقتصادی لګښتونه:

۱.پانګیز لګښتونه (هزینه های سرمایها) داهغه لګښتونه دی چی په راتلونکی کښی دعوایدو دلاسته راوړلو سبب ګرځی چی دهیواد په عمومی بودیجی کښی دوسایلو تجهزاتو او عمرانی طرحو په توګه دثابتی دارایی په شکل ښکاره کیږی.

۲. جاری لګښتونه :داهغه لګښتونه دی چی په حاضروخت کښی ګټه ورځخه لاسته راځی خواوړ. دمهاله ګټه نه لری چی دی ته مصرفی لګښتونه (هزینه های مصرفی) هم وایی.

۳.داموالو داریی لګښتونه

۴.بلاعوضه کومکونه

۵.ټولنیزه هوسایی

۶.بلاعوضه کومکی لګښتونه:داهغه لګښتونه دی چی دولت یی زیانمنو اشخاصوته ورکوی چی دایران په دولتی بودیجه کښی دانتقالی لګښتونو په عنوان پیژندل کیږی.

(۲).عامه لګښتونو مانا او عناصر

دولت دعامه لګښتونو دپلی کیدو لپاره نغدی پیسی په کار اچوی ترخوله دی .

لاری خپلو موخو ته چی دعامه خدماتو وړاندی کول دی ورسیږی په دی اساس عامه لګښتونه نغدی پیسی دی چی دولت یی دعامه ګټو دلاسته راوړلو لپاره ترسره کوی.

دعامه لګښتونو بنسټیزه عنصر دنغدو پیسو کارول دی ځکه نغدی پیسی د دولت اړتیاوی پوره کوی هغه توکی وی او که دعامه خدماتو وړاندی کول داسی نور.

او بالاخره دعامه لګښتونو بل عنصرد دولت بیلابیل ارګانونه دی چی بیلابیلی چاری ترسره کوی.

## دویم جز،دعامه لګښتونو اهیمت

په نولسمه میلادی پیړی کښی د دولت دندی امنیت او عدالت په تامنیولو کښی خلاصه کیدلی ټولنیزی کلتوری ښوونیزی دروغتیا او اقتصادی چارو د دولت دفعالیتونو څخه بهروی د دولت دندی تر دفاعی پولیسی قضایی او ډیپلوماسی پوری محدودی وی.

۱۹۲۰ م کال د دولت دلاسو هنوپیل ګڼل کیږی د۱۹۲۹-۱۹۳۳ م کال پوری اقتصادی کړکیچ د دویمی نړیوالی جګړی (۱۹۳۹-۱۹۴۵م)څخه وروسته داروپا بیارغونی د دولت حرکات په اقتصادی برخه کښی چټک کړل داقتصادی فعالیتونو انحصار دسترو صنایعو ملی کول عمده سوداګری دلوړی په وړاندی مبارزه نابرابری او عامه پانګه اچونه د دولت دفعالیت په حدودو کښی راغلل.

## دریم جز : دعامه لګښتونو دپلی کیداځایونه

عامه لګښتونه دپلی کیدا بیلابیل ځایونه لری چی غټ مواردیی په لاندی ډول دی:

۱. هغه معاشات چی دولت یی دمامورینو کارګرانو او متقاعد اشخاصوته ورکوی.

۲.دهغه توکو قیمت چی دولت یی رانیسی (پیری)او موخه یی ورڅخه دعامه اړتیاو پوره کول وی.

۳. هغه مرستی چی دولت یی په بیلابیلو ټولنیزو ډلګیوویشی او یایی هم نړیوالو کمیټوته ورکوی.

۴.دهغه پورونو اداء کول چی دولت دعامه ګټوپه خاطر کړی وی.

## دویم مبحث:عامه عواید

تعریف: عامه عواید عبارت له هغو عوایدو څخه دی چی عامه لګښتونه تامینوی یاپّ بل عبارت عامه عواید دهغه عوایدو څخه عبارت دی چی دعمومی لګښتونو دتامین لپاره عمومی توان لاسته راوړی.

اقتصادی مکتوبونو دخپلواصولو مطابق دملی یاعامه عوایدو اهمیت بیان کړی دی دولتونه دخپلو عوایدو پربنسټ کیدای سی

تفکیک کړل سی په ټوله کښی عامه عواید په دووبرخو ویشل کیږی .

۱. هغه عواید چی دولت دهڅی او فعالیت سره مستقیمه اړیکه نه لری دا ډول عوایدو ته مالیاتی عواید وایی.

۲.هغه عواید چی ددولت داقتصادی او خدماتی فعالیتونو څخه لاسته راځی دی ډول عوایدو ته غیرمالیاتی عواید وایی.

غیری مالیاتی عواید بیا خپله په دری برخو ویشل کیږی.

## ۱.خالصه اموالو څخه لاسته راغلی عواید

دکلاسیک او سنتی مفهوم پربنسټ خالصه اموال هغه جنس یاملکیت ته ویل کیږی چی په دولت یا شاهی کورنی پوری تړلی وی دکلاسیک مفهوم پر اساس خالصه اموالو کښی یواځی کرهڼه او مځکه یی راتله خونن ورځ صنعتی سوداګریز او خدماتی خالصه اموال هم وجود لری.

## ۲.استقراضی عواید

دی ډول عوایدو ته غیرواقعی عوایدو هم وایی چی دولت یی دبودیجی دکسراو اعتباراتو دتامین په خاطر په موقتی ډول دعوایدو سره یوځای کوی او موقتی بڼه لری عمده دلایل چی دولت استقراض ته اړکیږی په لاندی ډول دی.

I. دتاکلو مالی تعهداتو د اداء کولو لپاره

II. دنه پیش بینی سو پروګرامونو دپلی کیدو لپاره کوم چی دغیر مترقبه پیښنو څخه رامنځته سوی وی لکه سیلابونه توپان زلزله جګړه او داسی نورو په وخت کښی که د دوولت بودیجه کفایت ونکړی دولت مجبورا استقراض ته مخه کوی.

III. داقتصادی کلتوری او ټولنیزو پروګرامونو پراخوالی لپاره.

IV. داقتصادی رکود په وړاندی مبارزه کول چی معمولا داوخت دولت دمرکزی بانک څخه استقراض کوی په دی وخت کښی بودیجه په کسر کښی لیکی او په واقعت کښی اضافه له هغه څخه چی بودیجه کښی پیش بینی سوی وی په لګښت رسوی اوله مرکزی بانک څخه غواړی چی دمالی ناخالص تولیداتو څخه زیات پیسی نشر کړی ترڅو په دی توګه اقتصادی رکود په موقت ډول له منځه یوسی.

— **داستقراض ډولونه:**

استقراض له دوه پلوه کولای سو وویشو:

**الف.داعتبار دمنبع دتامین له پلوه**

له دی پلوه کولای سواستقراض په داخلی او بهرنی برخه وویشو:

لومړی فقره : داخلی استقراض

داخلی استقراض په هیواد کښی دپورونو د ورکړی دپانو په اساسی تامنیږی.

دویمه فقره :بهرنی استقراض

بهرنی یا خارجی استقراض به یاپه مستقیمه توګه وی چی دولت دنړیوال بانګ یا کوم بل هیواد څخه پوراخلی.

اوپه غیر مستقیمه ډول بهرنی استقراض بیا دی ته وایی چی دولت بهرنی خصوصی پس انداز دخپل هیواد داړتیا وړسرمایه اچونو کښی داخلیوی.

## ب: دوخت له پلوه داستقراض ویش

دوخت له پلوه داستقراض په دری ډوله سرته رسیږی:

لومړی فقره :لنډ مهاله پورونه (قرضه های کوتامدت)

ددی پورونو د اداءینی موده د ۳ میاشتی څخه شروع بیا د۳ کلونو پوری ده.

دویمه فقره: منځمهاله پورونو(قرضه های متوسط مدت)

د دی پورونو د ادا‌ینی مده معمولا د ۳ کالو څخه تر شل کلونوپوری وی

دریمه فقره .اوږد مهاله پورونه (قرضه های درازمدت)

داهغه پورونه دی چی د اداءینی موده یی نسبتا زیاته ده چی به هیوادونو کښی معمولا دا موده ترشلو کلونو کمه نه ده چی ددی ډول پورونو څخه اکثره دلویو ملی پروژو په تطبیق کښی کار اخیستل کیږی.

## ۳.دپولی او بانکی سیستم څخه لاسته راغلی عواید:

دا ډول عواید په حقیقت کښی داستقراض یو ډول دی په دی شرط چی دغه عاید دهیواد دبانګی سیستم څخه داعتبار اخیستلو په صورت کښی وی اماداچی دا عاید دپیسو د نشر په ډول وي، اود منشر سویو پیسو حجم د ټولني د بولی ظرفیت څخه لوړ وي کولای سو هغه ته یو ډول مالیه ووایو، پولی او بانکي عواید په دوه ډوله لاسته راځي:

**لومړی فقره**: دمسکوناتو او پیسو نشر چی دولت دپیسو دحجم د ډیروالي له امله د عوایدو لاسته راوړلو ته اقدام کوي، داچي ددي ډیروالی سره د تولید او ثروت (پانګی) ترمنځ میزان(برابری) نه وي نو قیمتونه لوړیږي، په دی شرایطو کښي دولت خپل عواید دهغه چاله عوایدو څخه چی ثابت وی لاسته راوړي، چی په دی توګه اقتصادي رکود او تورم رامنځته کیږی چی دایو ناعادلانه لار ده.

**دوهمه فقره**: دبانکی سیستم په ځانګړي ډول دمرکزي بانک څخه استقراض:

داچی مرکزی بانک د دولت د پیسو د صندوق حیثیت لري چی له دولت ته په ورکړل سویو پیسو باندی ګټه او سود هم نه غواړی خوترڅنګ یي باید دی ټکی ته هم پاملرنه وسي چی دولت باید دا پیسي ژر بیرته بانک ته ورکړی ترڅو دولت وکولاي سي چی په اقتصادی ګردش کښی رواني پیسی ډیری کړی ، او اقتصادي رونق رامنځته کړي.

## پینځم څپرکی

## مالیات او دهغه مسایل په مالی حقوقو کښی

### لومړی مبحث دمالیاتو تعریف:

دمالیاتو په اړه دنورو ټولنیزو مسایلو یه څیر ډیر تعریفات وړاندی سویدی چی موږ به هم له یوڅه یادونه وکړو.

مالیه دهغه اجباری ورکړی څخه عبارت ده چی خلک یی د دولت دمصارفو دتمویل په منظور د دولت دغیر مستقیمو خدمتونو په بدل کی ورکوی .

یا په بل عبارت ،مالیه دهغه مکلفیت او مسولیت څخه عبارت ده چی خلګ یی د دولت دپایښت او تقویی او دمصارفو دتمویل په منظور دولت نه تسلیم کوی

مونتسکوم. افراد باید دهغه خوندونوپه مقابل کی مالیه ورکړی چی د دولت څخه یی لاس ته راوړی .

مالیه نن ورځ یواجباری عمل ګڼل پداسی حال کښی چی جبریو ناخوښیدونکی عمل ګڼل کیږی په همدی اساس دمنسوخ مسیحت فلسفه یی داسی تعریفوی مالیه بی ګناه غلاده . ډیوډهیوم دمالیاتو په اړه وایی.

مالیات په حقیقت می دټولو هغه خطراتوپه وړاندی یو ډول بیمه ده چی پارلمان یی نرخ ټاکی او دولت یی جبرانوی.

پرودین مالیات یو ډول مبادله ګڼی چی افراد یی دخپل هوساینی لپاره ورکوی.

خوراځی اوس دافغانستان د۱۳۸۸هـ ل کال پر عایداتو دمالیاتو قانون وړغوو نوموړی قانون په خپله لومړی ماده دویم بند کښی مالیات داسی تعریفوی:

مالیه الزامی ورکړه ده چی د دولت دمالی بنسټ دپیاوړتیا او عامی سوکالی په منظور دحقیقی او حکمی اشخاصو څخه دمتقابل خدمت دسرته رسولو یاد جنس دوړاندی کولو پرته ددی قانون دحکمونو مطابق اخستل کیږی.

ښه اوس ددی لپاره چی دمالیاتو بحث ته وردننه سو باید ځینی مهم ډیر کاریدونکی اصطلاحات وپیژنو تر څو په راروانوبحثونو کښی مودپوهیدلو قوه پیاوړی وی.

## دویم مبحث :مالی اصطلاحات

۱.دمالیی قبلونی ظرفیت : Taxable Capacity

هغه اندازه چی خلک کولای سی مالیه ورکړی چی داقصتاد له پلوه دا ظرفیت هغه نقطه ده چی دمالیاتو په وضع کولو کښی له دی څخه تجاوز زیان راوړونکی پایلی رامنځته کوی.

**۲.دمالیی وړعاید:Income Taxable**

دحقیقی یا حکمی شخص دعوایدوهغه برخی ته ویل کیږی چی دمالیاتو دقانون مطابق دهغه مالیه ورکوی.

**۳ . مالی سرچینه:Tax source**

دارزښت یوواحد کوم شی یا امتیازچی مالیه دهغه په اساس ټاکل کیږی او مالی عواید دهغه په اساس سنجول کیږی.

**۴.دتیراو اینده په حساب مالیه : Taxes carry back and carry over**

دځينو هيوادونو په مالی قوانينو کښی داسی ماده موجوده وی مثلا په امريکا متحده ايالاتو کښی دشرکتونو پر عايداتو دمالياتو په اړه چی دځو کالو خساره او ګټی دموجوده کال سره يو ځای کوی او په دی ترتيب دځوکالو ماليه تاديه کوی.

**۵.دماليی ټولونکی :Tax Collector**

دحکومت سميز مامور چی دځينو مالياتو مخصوصادملکيت ماليات راټولو مسوليت لری.

**۶.مالی اعتبار:Tax Credit**

هغه مبلغ چی مودی کولای سی هغه دخپل ماليی مبلغ څخه وضع کړی.

**دماليی څخه فرار(تيښته) Tax Evasion**

دماليی په ورکړه کښی حيله غير قانونی هڅی چی دماليی دنه ورکړی يا فرار لپاره ترسره کيږی.

**۹.ماليی معافيت:**

هغه قانونی ازادی ته ويل کيږی چی ځينی موسساتو ته دماليی په ورکړه کی ورکول کيږی.

**۱۰ . دمالياتود راټولولو اجاره : Tax exemption**

۱۱ ماليی جنت:Tax heaven

هغه ځانګړی مالیاتی امتیازته ویل کیږی چی یو هیواد یی دبهرنیو شرکتونو ته ورکوی .

## ۱۲. مالیاتی انګیزه

هغه تشویقی تدابیرو ته ویل کیږی چی په مساعدمالیی یادمالیی په کښته نرخ یاد معافیت په شکل داقتصادی فعالیتونو دتشویق په منظور ترسره کیږی.

## ۱۳. مالی ګروی

دحکومت یاکومی نماینده ګی لخوا دغیر منقولو اموالو دتصرف حق چی دمالیی دنه ورکړی په صورت کښی مینځته راځی او دا ترهغه چی اړوند مالیه نه وی اداء سوی ادامه پیداکوی.

## ۱۴. مالی حد

دمالیاتو پرډولونو یا پر لوړ نرخ هغه قانونی حد ته ویل کیږی چی د ذیصلاح مقام لخوا وضع کیږی.

## ۱۵. دتیرزیان له مخی دمالیاتو تخفیف:

هغه قانونی ماده چی دځینو موسساتو سره دمرستی په منظور اجازه ورکوی تر څو دخساری دمنځته راتګ په اساس دمالیی دورکړی څخه وروسته داسترداد غوښتنه وکړی.

۱۶.دموجوده ضررله مخی دراتلونکی مالیی تخفیف:

هغه قانوني ماده چې دهغه مطابق ديوکال خساره دراتلونکی کال په عوايدو کښې محاسبه کيږی .

## ۱۷.دماليی نرخ:

هغه پولی ارزښت ته ويل کيږی چې دهغی له مخی حکومت ماليه راټولوی.

## ۱۸. صورت حساب ماليات:

دادماليه ورکوونکو هغه لست ته ويل کيږی چې په هغه کښې دهرنوم په مقابل کی مجموعی ماليه او دهغه مبلغ ماليه چی ورکړل سويده توزيع کيږی.

## ۱۹. دمالياتی عوايدو ويش:

هغه روش ته ويل کيږی چې يو سياسی واحد ماليه وضع او راټولوی او بيا له دی لاری څخه لاسته راغلی عوايد له نورو سياسی واحدونو سره ويشی مثلا دامريکا متحده ايالاتو په ځينو ايالاتو کښې پرملکيت باندی ماليه ځينی وختونه دسميزحکومت له خوا وضع او راټوليږی بيا وروسته ددی عوايدو څخه ځه برخه مرکزی حکومت او نورو فرعی سياسی واحدونوته ورکوی ځينی وختونو بيا مرکزی حکومت يوه ماليه وضع او راټولوی اوبيا دهغه عايدات پرنورو فرعی ادارو ويشی.

## ۲۰. دمالیی انقتال (لیږد)

دمالیی انتقال دهغه عمل څخه عبارت دی چی دمالیی بارکیدای سی یو شخص څخه بل شخص ته انتقال سی دانتقال کیدای سی مخکنی یا وروستی وی.

مخکنی انتقال ته وای چی مودی متناسبه مالیه د مالیی دمبلغ په اندازه دخرڅونکی څخه په ټیټ قیمت تهیه کوی په دی صورت کښی مالیه خرڅونکی ته انتقالیږی.

وروستی انتقال دی ته وایی چی تولیدکوونکی دمالیی مبلغ دقیمت په لوړولو سره رانیونکیی (مشتری) ته انتقالیوی.

## دریم مبحث : په افغانستان کی دمالیاتو تاریخی سیر

مالیه په افغانستان کی پنځه زره کلن غیری رسمی تاریخ لری داحمدشاه بابا په وخت کی ۱۱۶۵ هش کال کی د مالی ټوله ولو لپاره یو اداره د دیوان بیگی په نامه جوړه سوه او لمړی متصدی د دیوان عبالله خان پوپلزی وو د دیوان بیگی نوم دوخت په تیریدو سره په مستوفی المک بدل سو چی اوسنی نوم یی دمالی وزارت دی نو ددی لپاره چی بحث اوږد نسی دخپلواکی اخیستلو وروسته په افغانستان کی دمالیی پرتاریخی بحث پیل کوو.

لومړی جز:دخپلواکی څخه وروسته دامان الله خان په دوره کی مالیات (۱۹۲۹-۱۹۱۹م)

دحبیب الله خان بی بندوباره حکومت او دافغانستان لپاره دخپلواکی داخیستلو جګړو دامانی حکومت خزانه دی حال ته ورسول چی ددولت دعادی چارو دسرته رسولو توانایی هم په خزانه کښی نه وه بناء اړینه وګڼل سوه چی په مالی برخه کی جدی اصلاحات راوستل سی ترڅو له دی لاری ددولت خزانه بیرته ترممیم سی نو په همدی اساس دامان الله خان په وخت کښی دهیواد دمالی مسایلو اصلی بنسټونه کیښښودل سول او دلومړی ځل لپاره دکورنیو او بهرنیو عواملو په نظر کی نیولو سره مالی قوانین تدوین سول.

د۱۹۲۱څخه تر ۱۹۲۸ م کلونو په منځ کی دامان الله خان حکومت لخوا قوانین او دافغانستان لومړی اساسی قانون دنظامنامی په نامه په کابل کی خپاره سول چی دهغی جملی څخه یو څویی دادی.

۱.دمالیاتو اصول کال ۱۹۲۱ م چی د۱۳۰۰ هـ ل کال سره سمون خوری.

۲.دکابل داطرافو لپاره دمالیاتو اصولنامه

۳.دللمی مځکو دمالیاتو دحصول اصولنامه کال ۱۹۲۳ میلادی

۴.پرڅارویو باندی د ۱۹۲۷ م کال دمالیاتو اصولنامه

۵.د ۱۹۲۴-۱۹۲۵ م کال د دولتی مځکو دپلورلو اصولنامه

۶.دکرنیزو کارکونکو دمسُولیت په اړه اصولنامه

او داسی نور قوانین رامنځته سول په هغه وختونو کښی پرمځکی باندی مالکیت په لاندی توګه طبقه بندی کیدل.

- خصوصی مځکی
- دولتی مځکی
- ګډی مځکی

دخصوصی مځکو خاوندانو کولای سوای چی په ازدانه ډول خپلی مځکی خرڅی کړی یایی رانیسی دولتی مځکی دحکومت لخوا دمهاجرینو دولتی مامورینو قبایلی مشرانو او دهغه چاته په واک کی ورکول کیدی کوم چی دولت لازمه ګڼلی وای هغوی ته به دمعاش یا خدمت په بدل کښي ورکول کیدلی.

دغه ډول دولت ورکړی اراضی (مځکی) دهرډول مالیاتو له ورکړی څخه معاف وی ګډي یا مشترکی مځکی یواځی دځړځایونو په شکل وی.

البته داچی دولت مځکی خرڅولی له دی څخه یی یو هدف داو چی په پیسو د دولت دخزانی تشه ډکه کړی اوله بله خوا د دولتی مځکو مالیه نه اخیستل کیده ترڅو له هغه څخه مالیه ترلاسه کړی امانی حکومت پر همدی اساس اکثره دولتی مځکی په خصوصی مځکو تبدیلی کړی.

دیادونی وړده چی مخکی به دمالیی په بدل کښی جنس اخیستل کیدی چی دغه کار ډیر بریا لی نه و د یوی خوا به فساد موجود و او له بلی خوا د دولت عواید څنګه چی باید راټول سوی وای نسوه کیدای اما په ۱۹۲۱ م کال کی دمالیی اصولنامه صادره سوه چی دهغی په اساس جنسی مالیات په پیسو وواښتل چی دیاد قانون په ۱۴ ماده کښی راغلی وه.

له دی وروسته مالیات په نقدو پیسو اخیستل کیږی او رسیدلی مالیی مبلغ په بشپړه توګه د دولت خزانی ته لیږل کیږی .

په دی نظامنامه کښی غیر قانونی باج او خراج چی دولسوالی دکارکوونکو په واسطه اخستل کیدی منع سو او جالبه داوه چی د دی قانون په څلورمه ماده کښی کوچیان بدون دقید او شرطه دمالیی په ورکول مکلف ګڼل سوی وه او په عین حال کښی په نظر کښی نیول سوی که چیری کوچیان یو ځای مالیه ورکړی په نوی ځای کی دمالیی له ورکړی څخه معاف دی بالاخره په دی سره د دولت په عایداتو کښی زیاتوالی راغی چی له اتیامیلونو افغانی څخه یوسل او نوی میلونه ته ورسیدل چی په لاندی ډول وه.

۱.پرمځکو باندی مالیات ۸۰ میلونو افغانی

۲.پرڅارویو باندی مالیات ۳۵ میلونو افغانی

۳.ګمرکی مالیات ۴۰ میلونو افغانی

۴.دصکوکو محصول ۱۰ میلونه افغانی

۵.نور متفرقه عواید ۲۵ میلونه

دهغه سره نوی ریفورمونه رامینځته سول دولت دمالیاتو په تزیید (زیاتوالی)کی ګامونه پورته کړل دبیلګی په توګه پرابی مځکو مخکی فی جریب ۵ افغانی مالیه وه ۸ ته لوړه سوه دځارویو مالیه هم زیاته سول داوش مالیه د ۳ څخه ۴ داس د۲ څخه ۳ دغوا د ۱ څخه ۲ دپسه ده تر ۵۰ افغانیو پوری لوړه سوه.

دامان الله خان دحکومت دسقوط څخه وروسته چی حبیب الله کلکانی واکمن سو هغه په خپل لومړی فرمان کی یادونه وکړه چی دشرعیت څخه بهر ټول مالیاتو اندازه دقران مجید او حدیثو دتشریحاتو په اساس ټاکل کیږی.

دافرمان په لومړی سرکی دخلکو دګرم هرکلی سره مخ سو ولی ناپوهـ امیر په دی نه پوهیدی چی یو تعداد اشخاص یی قصدا دا ډول کړنو ته سوقوی ترڅو یی د دولت دسقوط عوامل برابرسی دکلکانی حکومت یو څو میاشتی دامانی حکومت دخزانی څخه استفاده وکړه ولی وروسته دخپل عادی چارو دترسره کولو لپاره هم دستونزو سره مخ و کله چی نادرشاه واکمن سو هغه دامانی دوری مالیات بیا راژوندی کړه.

## دویم جز:دظاهر شاه په وخت کښی مالیات(۱۹۳۳-۱۹۷۳م)

دظاهر شاه په دوره کښی په ۱۳۴۴هـ ل کال دثور پر ۲۹ دافغانستان پرعایداتو دمالیاتو قانون چی یو نوی او دهغه وخت

دمالیاتی معیارونو سره برابر و قانون نافذ سو ،نوموړی قانون چې په هغه وخت کښی دسیمی په کچه یود مډرن ترینو قوانینو څخه و، په ۱۲ فصلونو کی په رسمی جریده کښی خپور سو دهیواد پر هر وکړی یی تطبیق لازمی سو چی لاندی موضوعات یی په برکښی نیول.

لومړی فصل: پراشخاصو، شرکتونو (سهامی شرکتونو ، محدودالمسولیت او دنور حقوقی شرکتونو)باندی مالیات .

دویم فصل:دمالیی وړ عوایدو تشخیص

دریم فصل:د دارایی ګانو دخرڅلاو تبادلی او انتقال له درکه ګټې یا ضرر

پینځم فصل: محاسباتی مقرارت

شپږم فصل:دسهامی او محدودالمسولیت شرکتونو په اړه مخصوص مقرارت

اووم فصل : دبیمه شرکتونو مالیات

اتم فصل :دبانکونو سهامی شرکتونو او پانګه اچونی مالیه

نهم فصل : دعایداتو په سرچینه کی دمالیاتو موضوعی کول

لسم فصل: دسهامی او دمحدودالمسولیت شرکتونو دانتفاعی معاملاتو مالیه

یولسم فصل دانفرادی اشخاصو ثابته مالیه

دولسم فصل:وروستی مواد

پورتنی قانون دټول هغه قوانینو چی تر هغه وخته پلی کیدل ځای ناستی وګرځیدی اما ددی قانون دتفسیر نه موجودیت چی مسولینو به په بیلابیلو ډول تفیسراوه دیو شمیر ستونزو سره مخ و،چی داستونزی دجمهوریس دادوخان تروخته پوری دوام وکړلی.

## دریم جز:دجمهوریس داودخان دوره او مالیات

محمد داودخان چی په خپل وخت کښی داصلاحاتو یو پلوی ګڼل کیدی دپورته ستونزو درفع کولو لپاره یوه تعلیماتنامه په ۱۳۵۲هـ ل کال کی پرعایداتو باندی دمالیاتو قانون لپاره وضع کړه چی تردیری کچی پوری یی ستونزی حل کړی او دا دمالیی ټولونکو مامورینو لپاره یو لارښود و داتعلیماتنامی دمالیاتو قانون په دی ټولو حکومتونو کی قابل دتطبیق و یوائی ځینی ضمایم به ورسره یو ځای کیدل یابه کوم تعدیل پکښی راتلی دثور کودتا وروسته په نوموړی قانون کی جزی تغیرات راغلل بیا هم پورتنی قانون تطبیق کیدی کله جی اسلامی انقلاب راغی بیا هم تیرپرعایداتو باندی دمالیاتو قانون پلی کیدی کوم جدی تغیرات پکښی رانغلل کله چی دطالبانو دوره راغلل یو شمیر مالیی سرچینی له منیځه ولاړی ځکه هرڅه پر شرعیت باندی ولاړه وه دبیلګی په توګه پربانکونو باندی

مالیات صفر ته نږدی سول ځکه چی مخکی دبانکونو عواید دسود پراساس وه چی دطالبانو حکومت ددی سر مخالف و.

ددی په خلاف بیا د طالبانو په دوره کی دمخدره موادو مالیات په غیررسمی ډول موجود وه تر ډیره وخته دکوکنارو کښت منعه نه و او حتی له هغه څخه مالیه اخستل روا ګڼل کیدل (دعلومو داکاډمی ریس مولوی فیروزالدین)په دی دوره کی نوموړی قانون ته ډیری ضمیمی ورکړل سوی او دهغی سربیره په مالی برخه کی دطالبانو دحکومت دمشر ملا محمد عمر فرامین هم په دی اړه صادرسوی وه دبیلګی په توګه لاندی احکام :

۱.جریمی حداقل د ۱۳۷۷/۱/۱ نیټی پوری معافی دی.

او داسی نور....

## دمالیاتو اصول

دمالیاتو اصول په لاندی ډول دی.

۱.دمالیاتو دقانونی کیدلو اصل

۲.دمالیی اطلاعاتو دمحرمانه کیدلو اصل

۳.دمودیانو په منځ کښی دعدم تبعیض اصل

## څلورم مبحث دمالیاتو ډولونه:

مالیات په مجموع کښی به دوه ډوله ویشل کیږی.

۱.مستقیم مالیات

۲.غیر مستقیم مالیات

**لومړی جز:مستقیم مالیات**

مستقیم مالیات هغه مالیاتو څخه عبارت دی چی داشخاصو څخه دهغوی دفعالیت او ملکیت په اساس اخستل کیږی یا هغه مالیات دی چی مالی باریی بل چاته نه انتقالیږی لکه دځمکی مالیات . انفرادی اشخاصو پر عایداتو . دنمایشاتو پرعایداتو مالیه .دموسیساتوپرعایداتومالیه ، دمعاش پرعایداتو مالیه لو داسی نور مستقیم مالیات هم ګټی لری او هم زیانونه چی موږ به یی دلته دواړه تر بحث لاندی نیسو :

**الف:دمستقیمو مالیاتو ګټی (فواید)**

۱.دلته دصرفه جویی اصل مرعات کیدای سی ځکه چی دلته دمالیه ورکوونکی او دولت تر منځ دریمګړی شخص وجودنه لری.

۲.مستقیم مالیات دارتجاعیت خاصیت لری او دهغی په وسیله د دولت ضررونه په فوری ډول جبران کیدایسی.

۳.دمستقیمو مالیاتو ورکړه خلک خپلو مسُولینونوته متوجه کوی او ددی باعث ګرځی چی د دولت په فعالیتونو کښی برخه واخلی.

۴.داډول مالیات دخپل دایم والی په وجه ډاډمن او ثابت دی.

**ب:دمستقیمو مالیاتو زیانونه(نواقص)**

۱.مستقیم مالیات نقدی روپی دی زیات وخت دغلا ښکار ګرزی.

۲.داچی په مستقیم مالیاتو کښی باید ټول مبلغ تادیه سی نو کله کله دهغی په ورکړه کی ستونزی رامنځته کیږی نو دخلکو تر منځ دونه محبوبیت نه لری..

۳.مالیه ورکوونکی په اسانی سره دهغه څخه سرغړولی سی.

**دویم پاراګراپ: په افغانستان کی دمستقیمو مالیاتو ډولونه:**

مخکی تردی چی په افغانستان کی دمستقیمو مالیاتو پرډولو بحث وکړو پکارده چی وپوهیږو له چا څخه مالیه اخستل کیږی.

دافغانستان پرعوایدو دمالیاتو قانون (۱.ع.م.ق) دویمه ماده یی روښانه کوی چی له چا څخه مالیه اخستل کیږی:دهیوادپه دننه بهر کښی دحقیقی او حکمی اشخاصوله ټولو عوایدو څخه چی له افغانی سرچینو څخه لاسته راځی او هغه عوایدو څخه چی په افغانستان کی میشت یی له غیر افغانی سرچینی هغه عواید دی چی په خپل داخل کښی دهیواد دسرچینو څخه په افغانستان کښی دمیشتو (مقیمو)اشخاصو او په بهر کښی ددولتی ادارو له شتمنیو څخه لاسته راځی او غیر افغانی سرچینی هغه عواید دی چی دافغانستان په دننه کښی دنورو هیوادونو له سرچینو څخه په افغانستان کښی دمیشتو اشخاصو په واسطه لاسته راځی دغه ډول دی له یاده نه وی پاتی

چی کورنی سرچینی هغه عواید دی چی هیواد دکورنیو سرچینو څخه دافغانی او غیری افغانی سرچینو په شمول لاسته راځی

دلاندی شرایطو لرونکی حقیقی او حکمی اشخاص دافغانستان مقیم ګڼل کیږی.

۱. په هغه صورت کښی چی دمالی کال په اوږدو کښی دشخص داوسیدو اصلی ځای په هیواد کښی دننه وی.

۲. په هغه صورت کښی چی دمالی کال په اوږدو کښی شخص ټولی ۱۸۳ ورځی موده په افغانستان کښی دننه تیره کړی وی البته مالی کال په دی قانون کښی له هجری لمریز کال څخه عبارت دی چی دوری (حمل)له لومړی نیټی څخه پیل کیږی دهمدی کال دکب (حوت) تروروستی نیټی پوری رسیږی خودیادونی وړده چی وزیرانو شورا دپریکړی پر اساس مالی کال اوس دجدی دلومړی نیټی پیل او دقوس دمیاشتی په وروستی نیټه پای ته رسیږی جی نوموړی تعدیل په ۱۰۶۵ شمیره رسمی جریده کی ثبت دی کوم چی د ۱۳۹۰ کال قوس په نهمه خپره سویده.

۳. هغه کارکوونکی چی دمالی کال پّه اوږدو کښی د دولتی خدمتونو دسرته رسولو په منظور له هیواد څخه بهر توظیف سوی وی.

۴. نور هغه بنسټونه چی تاسیسولوئی دمالی کال په اوږدو کښی صورت نیولی وی یایی مرکزی اداره په افغانستان کښی دننه وی.

**دمالیی تابع عواید**

لاندی لاسته راغلی عایداتو باندی دمالیاتو تابع دی(ا.ع.م.ق)۱۳ ماده

۱.معاش ،مزد. فیس او کمیشن

۲. دسوداگری صنعتی ودانیزو او نورو اقتصادی فعالیتونو دمعاملو ټول عواید (دحکمی اشخاصو پر عایداتوباندی مالیات په مالی کال کښی دهغه دمالیی وړ عوایدو په سلو کی شل دی.)

۳.دمنقول او غیری منقول ملکیت له پلورلو څخه ترلاسه سوی عواید (دهغه مالونو بیه چی دحقیقی شخص له لخوا دپلورنی یاد منقول او غیری منقول مالونو لیږد له لاری ترلاسه کیږی دملکیت دلیږدیدو په وخت کی پرعایداتو باندی دمالیاتو په عوض سلوکښی دیوی مالیی د ورکړی تابع ګرځی)

۴.ټکټ پولی دونډی ګټه کرایه حق الامتیاز جایزی مکافات دقرعی او بخشیشوله درکه عواید.

۵.دتضامنی شرکت له عاید څخه شریکه ونډه(باید یادونه کړو چی شرکت د دوو یاله دوو څخه زیاتو اشخاصو یووالی دی چی اړونده اساسنامی مطابق په ګډه سره کار او سوداګری کوی او ګټه یازیان یی ویشی خوتضامنی شرکت دی چی له شریکانو څخه هریو په انفرادی یاټولیزه توګه دشرکت دټولو پورونو او دیونونو په ورکړه مکلف وی.)

۶.له کار پانګی یا اقتصادی فعالیت څخه ترلاسه سوی عواید

۷.نور هغه حالات چی په قانون کی تصریح سوی وی.(هغه حقیقی اشخاص چی اجناس یاخدمتونه دبیی په وړاندی عرضه کوی او عاید یی په هره ربع کی اووه سوه پینځوس زره یاله هغو څخه زیات وی دانتفاعی معاملو دمالیی په ورکړه مکلف دی لکه کوم هوټلونه او میلمستونونه چی نوموړی حد پوره کوی په سلو کی پینځه او که نوموړی حد پوری نه کړی په سلوکی دوه مالیی په ورکړه مکلف کیږی.)

۸.نور هغه عواید چی په دی قانون کی اټکل سوی نه دی.

دمالیی دوضعه کولو مکلفیت. (ا.ع.م.ق) ۱۷ ماده داسی حکم کوی ( ۱- وزارتونو اداری او نوری دولتی موسسی تصدی شرکتونه او خیریه موسسی مکلف دی دمعاشونو او مزدوریو داجرا په وخت کی مالیه وضع او د دولت حساب ته یی ولیږی ۲- د دولتی کارکونکو دتقاعد حقوق دمالیی له ورکړی څخه خلاص دی.)

## اوس به راسو په افغانستان کی دمستقیمو مالیاتو ډولونوته:

### ۱.دټولنیز مصونیت په منظور سهمیی (ونډی)

دټولنیز امنیت له مصونیت څخه هدف دادی چی په هر هیواد کبنی دامنیتی خدماتو اجراء لپاره یو اندازه مالیه ورکول کیږی چی دټولنیزامنیت دمصونیت په نامه یادیږی چی دا مالیه داشخاصو د دارایی دساتنی او مراقبت او دغه ډول داقتصادی فعالیتونو ته چټکتیا ورکوی خو متاسفانه دا ډول مالیه تر اوسه په افغانستان کی

وجود نه لری چی دهغی موجودیت په افغانستان کی په راونو حالاتو کی خورا ګټور تمامیدی.

## ۲. میراث او تحایف

څنګه چی یی له نامه څخه معلومیږی داهغه مالیه ده چی داشخاصو دمیراث او تحایفو (ډالیو)څخه اخستل کیږی پخوا په افغانستان کی په میراث باندی یو ډول مالیه وه اماپه اوسنی قانون کی موږ پر میراث باندی هیڅ ډول مالیه نه لرو.

پرعایداتو باندی دمالیاتو قانون په ۱۴ ماده کی پر میراث او تحایفو باندی مالیه رد کړیده خو البته هغه تحایف او جایزی چی د دولت نړیوالو موسسو یا کوم علمی غیرانتفاعی اداری څخه یی ترلاسه کړی وی.او په همدی ډول دیاد قانون د ۲۳ مادی په دویم بند کښی هر ډول منقول او غیری منقول ملکیت چی دمیراث له لاری انتقالیږی دمالیی وړ نه ګڼی.

## ۳.دملکیتونو دانتقال (لیږد)

دملکیتونو دانتقال دملکیتونو درانیولو او خرڅولو څخه عبارت دی . چی دملکیت په انتقال یا خرڅولو کښی نوی مالک یا رانیونکی دمالیه تابع ګرځی په داسی حال کښی چی خرڅونکی شخص دهیڅ ډول مالیی د ورکړی تابع نه کرځی اما دافغانستان به اوسنی مالیاتی قانون کی په بل ډول ده او هغه داچی هغه اشخاص چی خپله دارایی یا ملکیت خرڅوی داچی هغوی ډیر عاید لاسته راوړی یا داچی هغه

پانګی مالک ګرځی او همدارنګه کولای سی چی له هغه قیمت چی نوموړی ملکیت یی خپله رانیولی وی ګرانه خرڅ کړی چی داخپله یو ډول ګټه ده نو په دی اساس دافغانستان پرعایداتو باندی دمالیاتو قانون خرڅونکی شخص دمالیی تابع ګڼی چی باید له هغه څخه مالیه واخستل سی چی دپورتنی قانون پراساس رانیونکی شخص دمالیی ورکوونکی نه دی ځکه هغه په حقیقت کی یوه اندازه پیسی له لاسه ورکړی دی او تراوسه یی له دی ملکیت څخه کوم عاید لاسته راوړی نه دی نو په همدی اساس دمالیی وړ هم نه دی چی البته دمنقول او غیری منقول ملکیتونو دانتقال څخه لاسته راغلی مالیه په لاندی ډول ده.

## الف:دغیرمنقولو اموالو پر خرڅلاو او انتقال باندی مالیات

دملکیت پر انتقال باندی مالیات دمیراث څخه بغیر دافغانستان پر عایداتو باندی دمالیاتو قانون په ۳۰ ماده لومړی بند کی په دی ډول حکم کوی.

دملکیت دلیږد په وخت کی پر عایداتو باندی دمالیاتو پر عوض په سلو کی دیوی مالیی د ورکړی تابع ګرځی.

## ب:دمنقولو اموالو پرخلاو او انتقال باندی مالیات

پر عایداتو باندی دمالیاتو قانون د۳۰ مادی د دویم بند پر اساس هغه قیمت چی دمنقولو اموالو یا نقلیه وسایطو له خرڅلاو څخه حکمی

اشخاصو لاسته راځی دملکیت دانتقال په وخت کبنی دیو فیصد مالیی په ورکړه باندی ملزم دی.

## ۴.مالیات پرعایداتو:

### الف:دحکمی اشخاصو پر عایداتو باندی مالیات

دحکمی اشخاصو مالیات لکه شرکتونه چی په هغه کبنی سهامی یاونډیز شرکتونو او محمدو دالمسولیت یا نور حکمی شخصیتونو راځی د۲۰ سلنه مالیی په ورکړه مجبوره دی.

### ب: دحقیقی اشخاصو پر عایداتو باندی مالیات

د(ا.ع.م.ق) د۴ مادی پر اساس د**حقیقی اشخاصوپر عایداتو باندی مالیات**دلاندی جدول مطابق اخستل کیږی.

| دمالی وړ عواید | دمالیی اندازه |
|---|---|
| له صفر څخه ترپینځه زره افغانیو پوری (۰-۵۰۰۰) | صفر معاف |
| له پینځه زره او یوی څخه تر دولس زره او پینځه سوه افغانیو پوری (۵۰۰۱-۱۲۵۰۰) | په سلوکی دوه (۲٪) |
| له دولس زره پینځه سوی یوی افغانی څخه سلوزرو افغانیو (۱۲۵۰۰۱-۱۰۰۰۰۰) | په ۱۵۰ ثابتو افغانیو سربیره په سلوکی لس (۱۵۰+ ۱۰٪) |

| | |
|---|---|
| له سلوزرو او یوی افغانی پورته (۱۰۰۰۰- پورته) | له ۸۹۰۰ ثابتو افغانیو سربیره په سلوکی شل (۸۹۰۰+۲۰٪) |

**۵.پرګټه باندی مالیه**

پر ګټه باندی مالیه لکه حقوقی یا سوداګریز شرکتونو پر ګټه باندی مالیات انفرادی یا حقیقی اشخاص او داسی نورو لخوا چی کومه ګټه لاسته راځی له هغوی څخه دګټی اخستنی مالیه یا انتفاعی مالیه اخستل کیږی.

داشخاصو او حقوقی یا سوداګریز شرکتونو  څخه چی فعالیت کوی په دی صورت کی دهغوی دمجموعی خرڅلاو څخه مستقیمه مالیه (انتقاعی مالیه) دمخابراتو وروسته دهغوی له خالصی ګټی څخه دوه فیصده مالیه اخستل کیږی چی دا هم په مستقیمو مالیاتو کی حسابیږی .

ولی هغه اشخاص او بنسټونه چی خدمات وړاندی کوی لکه هوټلونه رستورانټونه میلمستنونونه مخابراتی او نور شرکتونه له خپل مجموعی خرڅلاو څخه وروسته دمخابراتو  له تصفیی څخه دخپلی خالصی ګټی ۱۰ فیصده مالیی په ورکړه مکلف دی یاداچی په یوه میاشت کی ۱۰۰۰۰۰ سل زره افغانی خالص عاید ولری په دی صورت کی لس سلنه مالیه ورڅخه وضع کیږی.

که نوموړی حد پوره نګړی د دوه سلنه مالیی په ورکړه مکلف دی.

**۶.دکرایی مالیه**

دکرایی څخه مالیه هم دمستقیمو مالیاتو له جملی څخه ده چی دافغانستان پر عایداتو باندی دمالیاتو قانون ۵۹ ماده یی په اړه داسی حکم کوی.

(هغه کورونه او ودانی چی دسوداګریزو یاکاری دفترونو دسرته رسولوپه منظور حقیقی یا حکمی اشخاصو ته په کرایه ورکول کیږی مالیه یی په لاندی ډول ده.

۱.که چیری میاشتنی کرایه له لسوزرو افغانیو څخه ترسل زره افغانیوو پوری وی په سلو کی له ٪ ۱۰ مالیه به ورکوی .

۲. که چییری میاشتنی کرایه یی دسلو زرو افغانیو څخه زیاته وی په سلوکی پینځلس)

**۷.دسهم(ونډی)دګټی مالیه**

دا ډول ګټه په هغه اشخاصو پوری تړلی ده کوم چی له خپل سهم څخه ګټه اخلی لکه په یو سهامی شرکت کی دیوکس عاید او ګټه یاپه بل عبارت دعوایدو هغه ډول ویش دی چی دشرکت لخوا دپیسو شتمنی یاونډه ته دهغوی له ونډی سره دمیاشتنی هر ډول ګټی په شکل صورت نیسی چی البته په دی اړه پر عایداتو باندی دمالیاتو قانون ۴۶ ماده ۲فقره حکم لری.

ددی قانون دحکم له مخی دټکټ پولی دونډی له ګټی حق الامتیاز جایزو مکافاتو دقرعی او بخشیشی ګانو له درکه عوایدو حق الخدمت څخه په سلو کی دشل مالیی وضع کوی.

## ۸.موضوعی (وضعی)مالیات

دموضوعی مالیاتو څخه هدف دادی چی موږ باید دمالیی مکلف او دمالیی تادیه کوونکی وپیژنو په دی مانا چی مالیه پریو شخص وضع کیږی یایی یو شخص تادیه کوی ولی دمالیی مکلف بل شخص وی.

مثلا:دیوکور یا اپارتمان په کرایه کی دلته دمالیی مکلف په کرایه اوسیدونکی یا کرایه نشین دی ولی دمالیی دتادیه کوونکی دکوریاځای خاوند دی.

معاش، دونډی ګټه سوداګریزی کرایی او داسی نور موضوعی مالیاتو ډولونه دی.

## ۹.ثابت مالیات

په ټولو هیوادونو کښی دمالیاتو اساس او بنسټ پرعایداتو باندی مالیات دی چی له ټول عاید څخه چی مخارج ورڅخه ووځی مالیه اخستل کیږی اما په ځینو وختونو کی دناچاری څخه چی عواید او مخارج یا لګښتونه درست شکل نه تثبت کیږی نو ثابته مالیه ټاکی ثابته مالیه یو ډول اټکلی مالیه ده چی داټکل په اساس ټاکل کیږی

دثابتی مالیی مفکوره دلومړی ځل لپاره په ایټالیا کی مینځته راغلله چی اوس دنړی به ټولو هیوادونو کی وجود لری.

## - دثابتو مالیاتو ډولونه او اشکال

دافغانستان پر عایداتو باندی دمالیاتو قانون پر اساس ثابت مالیات لاندی ډولونه لری.

۱.وارداتی اموالو ثابته مالیه

۲.دعراده جاتو ثابته مالیه

۳.قراردادی ثابته مالیه

۴.دژرندو پایکوبونو او ځینی نورو ماشین الاتو ثابته مالیه

۵.دکوچینو اقتصادی فعالیتونو (اصنافو)ثابته مالیه

۶.د ډاکټرانو ثابته مالیه

۷.دکار او فعالیت دځای څخه بغیر اشخاصو ثابته مالیه

۸ دکمیشن کارانو او دلالانو ثابته مالیه

اوس هم راځو پورتنی ډولونو لږ څه واضح کوو.

## ۱.د وارداتی اموالو ثابته مالیه

د وارداتی اموالو ثابته مالیه عبارت دهغه مالیی څخه ده چی پر وارداتی اجناسو باندی وضع کیږی یعنی څه وخت چی جنس دیو

هیواد سرحد ته داخل سو دا ډول مالیه اخستل کیږی دا ډول مالیه له سوداګرانو څخه په لاندی کټګوری پر عایداتو باندی دمالیاتو قانون د ۷۰ مادی له مخی اخستل کیږی.

۱.هغه اشخاص چی سوداګریز جواز لرونکی وی او دمالونو په واردولو لاس پوری کوی دهغو دګمرکی محصول په شمول د دواردو سویو مالونو دتمامی سوی بیی په سلو کی د دوو ثابتی مالیی تابع دی.

۲. هغه اشخاص چی دسوداګریز جواز څخه پرته دمالونو په واردولو لاس پوری کوی پر عایداتو باندی دمالیاتو په عوض دهغو دګمرکی محصول به شمول د واردو سویو مالونو دتمامی سوی بیی په سلو کی د دری ثابتی مالیی د ورکړی تابع دی.

۳.هغه اشخاص چی موقت سوداګریز جواز لیک لری او دسوداګریزو مالونو په واردولو لاس پوری کوی او مالیاتی اظهارلیک مالیی وزارت ته نه وړاندی کوی پرعایداتو باندی دمالیاتو په عوض دهغو دګمرکی محصول په شمول د واردی سویو مالونو دتمامی سوی بیی په سلو کی د دریو ثابتی د ورکړی تابع ګڼل کیږی.

## ۲. .دعراده جاتو ثابته مالیه

دا ډول مالیه پر نقلیه وسایطو باندی چی اشخاص یا اموال انتقالیږی وضع کیږی چی دا ډول مالیه معمولا د دری کلونو لپاره اخستل

کیږی کله چی جواز سیراخلی یایی نوی کوی نه له هغه څخه مخکی به کلنی مالیه ورکوی چی په دی اړه موپام پرعایداتو باندی دمالیاتو قانون ته راګرځوم:

د(ا.ع.م.ق) ۷۱ ماده:

هغه اشخاصو چی په لاس کښی دشتووسایطو دسوداګریز فعالیت په مقصد دمالونو په لیږدولو او داشخاصو په حمل او نقل لاس پوری کړی دجواز سیر له نوی کولو دمخه په لاندی توګه دکلنی مالیی په ورکړه مکلف ګڼل کیږی.

**۱.باروړونکی عراده دټن په حساب**

له یوه څخه تر دوو ټنوپوری دوه زره او شپږسوه(۲۶۰۰)افغانی

له دوو څخه زیات تر دریو ټنو پوری ټنو پوری دری زره ځلورسوه(۳۴۰۰)افغانی

له دریو څخه زیات تر ځلورو ټنو پوری ځلور زره او دوه سوی (۴۲۰۰)افغانی

له ځلور څخه زیات تر پینځو ټنو پوری پنیځه زره (۵۰۰۰)افغانی

له پینځو څخه زیات تر شپږو ټنو پوری شپږزره (۶۰۰۰)افغانی

له شپږو څخه زیات تر اتوټنو پوری اووه زره او پینځه سوه(۷۵۰۰)افغانی

له اتو څخه زیات تر لسو ټنو پوری نهه زره افغانی (۹۰۰۰)

له سلو څخه زیات تر دولسو ټنو پوری لس زره او پینځه سوه (۱۰۵۰۰)افغانی

له دولسو څخه زیات تر څلوارلسو ټنو پوری دولس زره (۱۲۰۰۰)افغانی

له څوارلسو څخه زیات تر شپاړسو ټنو پوری دریارلس او پینځه سوه (۱۳۵۰۰) افغانی

له شپاړسو څخه زیات تر اتلسو ټنو پوری پینځلس زره افغانی (۱۵۰۰۰)

له اتلسو څخه زیات تر شلو ټنو پوری شپاړس زره او پینځه سوه (۱۶۵۰۰)افغانی

له شلو څخه زیات تر پینځه ویشوټنو پوری اتلس زره او پینځه سوه (۱۸۵۰۰)افغانی

له پینځه ویشتو ټنو څخه زیات به اتلس زره او پینځه سوه افغانیو سربیره یوټن په پینځه سوه افغانی

ټرلیر داکسل دپاسه له مجازوزن دمجموع څخه زیات له پینځه سوه کیلوګرامه څخه اضافه یوټن به دوه سوه افغانی

۲.مسافروړونکی عراده جات:

له دریو څخه ترپینځو تنو پوری په ظرفیت ټکسی دوه زره (۲۰۰۰) افغانی

له پینځو تنوله ظرفیت پورته ټکسی په دوه زره افغانیو سربیره یوه چوکی په دوه سوه افغانی

څوارلس چوکی مکروبس دوه زره او شپږسوه (۲۶۰۰) افغانی

له پینځلوڅخه تر یویشتو چوکیو پوری هرډول بس څلورزره (۴۰۰۰)افغانی

له دوه ویشتو څخه تر نهه ویشتو چوکیو پوری شپږزره افغانی

له دیرشو څخه تر نهه دیرشو چوکیو پوری اووه زره (۷۰۰۰)افغانی

له څلویشتو څخه تر نهه څلویشتو چوکیو پوری اووه زره اوپینځه سوه افغانی (۷۵۰۰)افغانی

له پینځوسو څخه ترشپیتو چوکیو پوری اته زره (۸۰۰۰)افغانی

له شپیتو چوکیو څخه زیاتی پراتوزرو (۸۰۰۰) افغانیو سربیره یو چوکی په دوه سوه (۲۰۰)افغانی

۳.عراده جات دسلنډرپه حساب

څلور سلنډره عراده جات یوه عراده یوزر او پینځه سوه(۱۵۰۰)افغانی

شپږ سلنډر عراده جات یوه عراده دوه زره (۲۰۰۰)افغانی

اته سلنډره عراده جات یوه عراده دری زره (۳۰۰۰) افغانی

له اتوسلنډرو څخه زیات عراده جات پر دری زره (۳۰۰۰)افغانیو سربیره یوسلنډر(۵۰۰)پینځه سوه افغانی

۴.ریکشا(رخشه)

دموټر سایکل ریکشا،یوه عراده پینځه سوه (۵۰۰)افغانی

ریکشا یوه عراده یوزر(۱۰۰۰)افغانی

**۳.قراردای ثابته مالیه**

دا ډول مالیات معمولا دهغه اشخاصو له عوایدو څخه اخستل کیږی چی بغیر دسوداګریز جواز څخه اموال او اجناس له یو ځای څخه رانیسی او بیا یی بل دفتر یا شرکت باندی خرڅوی.

هغه اشخاص چی سوادګریز جواز لرونکی نه دی مواد لوازم خدمتونو او دانیزو چاری له دولتی ادارو ښاروالیو دولتی تصدیو خصوصی بنسټونو او نورو اشخاصو سره قرار داد وکړی،پر عایداتو باندی دمالیاتو په عوض دثابتی مالیی داووه فیصده په ورکړه مکلف ګڼل کیږی دغه مالیه له ورکړی وجوهـ څخه ټاکل کیږی.

دغه مالیه دتادیه کوونکو اشخاصو له خوا واضع او په لسو ورځو کی دمالیاتی اداری اړوند حساب ته داخلیږی دا ډول مالیات داجناسو داصلی قیمتونو پراساس چی په قرار داد کی وی اخستل کیږی.

۴.دننداره ثابته مالیه

۷۳ ماده

هغه اشخاص چی تفریحی خدمتونه ترسره کوی لکه تیایر فلم نندارهراډیو یا تلویزون موسیقی یا ورزشی مسابقی دافغانستان په دننه کی وړاندی کوی دټکټ دپلورلو څخه دلاسته راغلو عوایدو دلسو فیصدو معادل ثابتی مالیی تابع دی.

۵.دډاکترانو ثابته مالیه

هغه ډاکتران چی شخصی کتنځایونه لری هلته شخصی کارکوی پرعایداتو باندی دمالیاتو پرعوض لاندی ثابت کلنی مالیات تادیه کوی.

۱.هغه ډاکتران چی ترلسو کلنو پوری د ډاکتری تجربه لری دشپږ زره افغانی کلنی مالیی په ورکړه مکلف دی.

۲.هغه ډاکتران چی له لسو کلنو څخه زیات تر شلو کلنو پوری د ډاکتری تجربیه لری دلس زره افغانی کلنی مالیی په ورکړه مکلف دی.

۳.هغه ډاکتران چې له شلو کلنو څخه زیات د ډاکترۍ تجربه لري دپېنځلس زره افغانی کلنی مالیی په ورکړه مکلف دی.

الیته نوموړی مالیه ډاکتران هغه وخت ورکوی چې دمالیی کال دبشپړیدو وروسته له عامی روغیتاله اړوند کوم ډاکتر خپله پورتنی مشخصه کلنی مالیه دولت ته تادیه ورنکړی نو دمالیی وزارت دمسؤلینو لخوا یی تر هغی چی مالیی حسابونه یی نه وی تصفیه سوی کلنیک یا کتنځای یی مسدود (تړل)کیږی.

۶.دکمیشن کارانو او دلالانو ثابته مالیه

مخکی تر دی چی دکمیشن کارانو او دلالانو پر ثابتی مالیه وړ.غیږ.و اړینه بولو چی دکمیشن کار او دلال په اړه یوڅه معلومات وړاندی کړو.

کمیشن کار هغه چاته ویل کیږی چی دمالیی له وزارت څخه رسمی دکمیشن کاری جواز ترلاسه کوی کوم چی دخرڅونکی او رانیونکی تر مینځ دمنځګړیتوب رول ترسره کوی یا داچی کمیشن کار معامله په خپل نوم دبل چاپه ګټه ترسره کوی.

دد لال او کمیشن کار ترمینځ تو پیردادی چی دلال د دولت څخه رسمی جواز نه دی ترلاسه کړی.

دا ډول کمشین کاران او د لالان چی دخپل کاری فعالیت مشخص ځای نه لری دهغوی مالیه معمولا په لاندی ډول ټاکی.

۱.لومړی طریقه داده چی د دوی مالیه دهغه نورم مطابق چی دمالیی وزارت لخوا ټاکل کیږی وضع کیږی خاصتا کوم کسان چی په یو سوداګری یا کسب مشغوله وی.

۲.یا هم دمالیی وزارت لخوا دلاندی عواملو پر اساس مالیه وضع کیږی.

لومړی : دجنس نوعیت یا خدمت چی هغه یی وړاندی کوی.

دویم:دهغه کار او فعالیت یو اتکل

دریم :دکار او فعالیت موقعیت

څلورم : ورځینی میاشتنی یا کلنی خالص عوایدو اټکل

۷.دژروندی پایکوبونو او حلاجی ماشینونو ثابته مالیه

دا ډول مالیه معمولا پر ناخالصو عایداتو باندی یو اټکل دی یادا چی ماشینونو قدرت پر اساس وضع کیږی چی په دی اړه ع.م،ق ۷۵ ماده صراحت لری.

۱.دژرندو پایکوبونو دګوړی حلاجی او ددی په شان نور ماشینونو باندی ۱۰٪ ثابته مالیه دهغوی دناخالصو عایداتو څخه اخستل کیږی او خپله کلنی مالیه اړونده دفتر ته تحویلوی .

۸.دفعالیت دځای څخه بغیر داشخاصو ثابته مالیه:

ځنګه چې وينو اشخاص دخپل کار او فعاليت يو دايمي ځای نه لري خو دخپل اقتصادي فعاليت څخه يوه اندازه عايد لاسته راوړی نظر دی چې دولت دهغوی دخوندیتوب لپاره زمينه برابره کړيده نو بايد دولت ته ماليه ورکړی.

ددی بيلګی لاس خرڅونکی او ليږی والا دی چې هر کال بايد په ثابت شکل دولت ته ۱۲۰۰ افغانی ماليه ورکړی.

## د۱۳۸۴-۱۳۸۷ هـ ل کلونو کی په افغانستان کی دمستقيم ماليات کچه:

| ۱۳۸۷ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۳ | کلونه |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| ۱۷۵۹۲۰۰۰۰۰۰ | ۱۳۳۴۴۰۰۰۰۰۰ | ۱۲۳۸۲۲۴۱۴۷۰۲۵ | ۲۸۴۶۹۹۸۶۹۸۸۷ | ۲۰۰۱۳۰۱۷۴۷ | ټوله مستقيم ماليات |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **د دولت داخلی عوایدو مجموعه** | ۱۲۸۱۱۲۵۹۵۹۲ | ۲۲۶۴۵۵۸۸۸۵۳۸۷ | ۲۵۲۲۰۰۰۰۰۰ | ۳۵۷۷۳۰۰۰۰۰۰ | ۳۹٪ |
| په داخلی عوایو کی د مستقیمو مایاتو فیصدی | ۱۵،۹٪ | ۱۲،۵٪ | ۳۹٪ | ۳۵،۳۷ | ۳۹٪ |

## دویم جز :غیر مستقیم مالیات

غیری مستقیم مالیات عبارت دهغه مالیاتو څخه دی چی اکثره

وختونو پر قیمتونو او اقتصادی عاملینو باندی دانتقال قابلیت لری په داسی حال کښی چی مستقیم مالیات پر عایداتو او دارایی باندی وضع کیږی غیر مستقیم مالیات هغه وخت تادیه کیږی چی د دارایی یا عاید خاوند هغه په مصرف رسوی پّ رسټورانټ کښی ډوډوی خوړل دالوتکی ټکټ رانیول تعمیر ابادول یوه جوړه بوټ رانیول

په دی ټولو کی په حقیقت کښی رانیونکی مالیه هم تادیه کوی.

یاپه بل عبارت غیر مستقیم مالیات عبارت دهغه مالیاتو څخه ده چی مالیی بار نورو اشخاصو ته لیږل کیدای سی ددی ټولو مالیاتو په ورکړه کی معمولا تادیه کوونکی دمالیی دورکړی احساس نه کوی.

لومړی پاراګراپ :دغیرمستقیمو مالیاتو ګټی اوزیانونه

الف:دغیر مستقیمو مالیاتو ګټي

۱.دغیر مستقیمو مالیاتو ورکول اسان کار دی ځکه کوم وخت چی خلک پیسی ولری نو شیان اخلی او مالیه هم ورکوی دغه خلک بی له دینه چی دمالیی دورکولو وزن احساس کړی مالیه ورکوی.

۲.دغیر مستقیمو مالیاتو څخه تیښته ډیره ستونزمنه ده.

۳.په غیر مستقیمو مالیاتو کښی یو ډول نسبی عدالت نغښتی دی او هغه شیان دمالیی لاندی راځی چی خلک یی اخلی.

۴.دغیر مستقیمو مالیاتو په وجه کیدای سی دغیر ضروری او مضر اشیاوو دمصرف څخه مخنیوی وسی لکه د دخانیاتو او الکولی مشروباتو

۵.غیر مستقیم مالیات د دولت دطرحواو پالیسو دپلی کیدا لپاره یو ښه وسیله ده کوم چی اقتصادی او ټولنیزی ګټی لری.

ب:دغیر مستقیمو مالیاتو زیانونه

۱.په غیر مستقیمو مالیاتو کښی دشیانو دتولید اندازه نه معلومیږی.

۲.په غیر مستقیمو مالیاتو کښی غریب او بډای ډول مالیه ورکوی چی په دی ترتیب سره مالی بارزیاتره دغریبانو په اوږوپریوځی.

۳.دغیر مستقیم مالیات په چاکی نیک احساس نه راژوندی کوی او بالاخره د دولت په فعالیتونو کښی سهم نه اخلی.

۴.مغازه لرونکی او سوداګران دغیر مستقیمو مالیاتو په راټولو سره دغیر رسمی مامورینو رول اداء کوی.

۵. په غیر مستقیمو مالیاتو کښی دپس اندازه اصل نه مراعات کیږی په دی مانا چی شیان دڅو لاسونو څخه تیریږی او هر خر څوونکی دهغه څخه فایده اخلی اوپه پالیه کښی مستهلکین هم یو لوړ قیمت دشی داخستلو لپاره تادیه کوی.

۶.غیر مستقیمو مالیات دیو بهرنی تبعه په حق کښی بی عدالتی ګڼل کیږی کوم چی دمحدودو ورځو لپاره اوسیږی هم دشیانو یه رانیولو سره مالیه ورکوی.

دویم پاراګراپ:دغیر مستقیمو مالیاتو ډولونه

الف:ګمرکی محصولات

ب:پر خرڅلاو او انتقاعی معاملاتو او خدماتو مالیات

ج:دارزښت پرزیاتوالی باندی مالیات

الف:ګمرکی محصولات

ګمرکی مصحول هغه مبلغ دی کوم چی پر وارداتو او صادراتو باندی دطبقه بندی او په تعرفه کی دمندرجو اندارو په اساس وضع کیږی.

ګمرکی محصولات دغیر مستقیمو مالیاتو به کټګوری پوری اړه لری او له یو سرحد څخه د تیریدو په وخت کښی اخستل کیږی داچی ګمرکات دیو هیواد بهرنی اقتصادی تر تاثیر لاندی راولی نوپه همدی اساس نن ورځ دبهرنی سوداګریز سیاست دیوی مهمی وسیلی په توګه په کار وړل کیږی.

ګمرک دهغی دولتی اداری څخه عبارت دی چی صادراتی وارداتی ټرانیزیټی مالونه دمسافرینو محموله دموظفینو محموله او پوستی

پارسلونه دګمرکی تقنینی اسنادو مطابق اجراء او کنټرولوی دافغانستان دګمرکاتو قانون دریمه ماده

لومړی فقره:دګمرکی محصولاتو ډولونه

الف-دامتعو دحرکت دلوری له پلوه ګمرګونه

١.وارداتی ګمرکونه:

دا هغه عواید دی کوم چی دګمرکی محصولاتو څخه وضع کیږی وارداتی محصولات دهغه اجناسو او مالونو څخه اخستل کیږی چی داستفادی یا خرڅلاو په منظور هیواد ته داخلیږی.

ګمرکی محصولات چی دهیواد دعوایدو لویه برخه جوړوی دلاندی دلایلو په اساس اخستل کیږی.

- دهیواد د داخلی محصولاتو دملاتړ په خاطر
- دغیر ضروری او تجملی کالیو د واردولو څخه مخنیوی په خاطر
- دولت لپاره دعوایدو دراټولیدو په خاطر

دنظر خاوندانو په دی اند دی هغه هیوادونه چی دوارداتی پرځای صنعتی سوی دی غالبا پرعایداتو باندی مالیات د داخلی محصولاتو دملاتړ په خاطر اخلی ددی ټول مالیاتو اخستل له یوی خوا اسانه دی بل خوا د دولت دعوایدو یو لویه برخه هم ده په داسی حال کښی چی

دغیر ضروری او تجملی شیانو څخه مخنیوی هم له دی لاری کیدای سی.

صادارتی ګمرکونه:

په دی کی هغه عواید شامل دی کوم چی له صادراتی اموالو څخه چی له هیواد څخه بهر داستفادی یا خرڅلاو په منظور لیږل کیږی.

۳.ټرانزیټی ګمرکونه:

دا ډول مالیات دهغه مالونو او اجناسو څخه اخستل کیږی چی دهیواد له سرحد څخه تیریږی په داسی حال کښی چی نوموړی مالونه په دی هیواد کی نه خرڅیږی بلکه بل هیواد ته لیږل کیږی.

ب:دهدف دلاسته راوړلو له پلوه ګمرکونه

۱.مالی ګمرکونه:

مالی ګمرکات لکه څنګه چی یی له نامه څخه معلومیږی عبارت دهغه ګمرکاتو څخه دی چی هدف ورڅخه دعایداتو لاسته راوړل دی.

۲.حمایوی ګنرکونه:

له دی ډول ګمرکونو څخه هدف دادی چی دګمرکی محصولاتو په لوړولو سره د دهغو بهرنیو اجناسو او اموالو داخلال کوونکی سیالی مخه ونیسی چی مشابه یی په داخل دهیواد کښی موجود وی.

ج:دمحصولاتو دټاکلو او ارزیابی له پلوه ګمرکونه

۱.ارزښتی ګمرکونه

په دی ډول ګمرکونه کی دشیانو ارزښت په پام کی نیول کیږی او دهغی پر بنسټ ورڅخه ګمرکی محصول اخستل کیږی ددی ډول محصولاتو اخستلو ګټه داده چی محصولات دقیمتونو په پورته او کښته کیدلو سره تغیر خوری او لوی زیان یی دادی چی دتقلب امکانات پکښی ډیر دی.

۲.نوسانی ګمرکی محصولات

دا ډول ګمرکی محصولات دارزښتی ګمرکاتو یو پرمختللی شکل دی که چیری په بهرنیو بازارونو کی دشیانو قیمتونه لوړسی محصولات کښته کیږی او برعکس هغه وخت محصولات لوړیږی چی په بهرنیو بازارونو کی دشیانو قیمتونه کښته سی ددی ډول محصول څخه مراد داد چی دبهرنیو شیانو دقیمتونو دلوړیدو او کښته کیدو مخه ونیسی.

۳.اختصاصی ګمرکونه

په دی ډول محصولاتو کی دشیانو علایم او ځانګړتیاوی دمحصول اساس ټاکی او دګمرکی محصولاتو لپاره دتعداد وزن حجم او نورو په اساس دشیانو ځانګړیتاوی پیداکوی.

دویمه فقره:دګمرکونو موخی:

۱.د دولت دعوایدو تامین

۲.د داخلی تولیداتو څخه ملاتړ

۳.په سیر او سیاحت کی تسهیلات

۴.دټولنی ساتنه (دمضره درملو مخدره موادو او فرهنګی محصولاتو څخه)

۵.دچاپیریال ساتنی حفاظت (مضره مواد کیمیاوی موادو څخه)

۶.په سوداګری کی اسانتیاوی او پراخوالی

۷.دبهرنی سوداګری (تجارت) په اړه داطلاعاتو او احصایی راټولول او دهغوی تجزیه او تحلیل

۸.دسوداګری په برخه کی دنړیوالو کنوانسیونونو او تړونونو رعایتول.

دریمه فقره:دافغانستان دګمرکونو دمډرنیزه کیدلو او اطلاحاتو اړیتا

سره له ډیرو ستونزو بیا هم په افغانستان کی د دولت دعوایدو یوه لویه برخه ګمرکی عواید دی چی دهیواد نږدی۴۰ سلنه داخلی عواید له دی لاری لاسته راځی چی دهیواد په برمختګ او بیارغونه کښی مهم رول اجراء کوی.

په افغانستان کی دعوایدو دقیق راټول دسوداګری په اړه داطلاعاتو راټول او ټولنی ته د مضره او غیر ضروری مواد د راوړلومخه

نیول دګمرکونو په اصلاح او دګمرکی خدماتو په پراختیا پوری اړه لری.

دګمرکونو له اصلاح څخه مو هدف دسوداګری او پانګه اچونی لپاره دسهولتونو برابرول او دیوی داسی فضاء برابرول دی چی دهیواد داقتصادی او ټولنیزو پرمختګ متضمین وی.

دافغانستان ګمرکونه له یوی خوا پر سوداګری باندی دپیچلو حاکمو قوانینو او مقرارتو د اجراء مسؤل دی او له بل خوا دسوداګری نړیوال سازمان(WTO) او دګمرکونو نړیوال سازمان (WCO) غوښتنه داده چی ګمرکی ساده پروسیجر په الکټرونیکی او کمپیوټری شکل واوړی.

چی البته دګمرکی اصلاحاتو له جملی څخه یوهم دګمرکی مالونودتصفیه کولو کمپیوټری کول دی چی البته دافغانستان د مالیی محترم وزارت په ګمرکونو کی دنړیوال کمپیوټری سیستم اسیکوډا (ASYCUDA) په تطبیق او نصب لاس پوری کړی.

داسیکوډا له سیستم څخه مخکی په نړی کی کوم اتوماتیک ګمرکی سیستم وجود نه درولودی چی دلومړی ځل لپاره په ۱۹۸۱ م کال کښی دیو شمیر مخ پروده هیوادونو په غوښتنه ملګرو ملتونو لخوا دسوداګری دپراختیا اودګمرکونو دکمپیوتری کولو لپاره داسیکوډا سیستم رامینځته سو چی پرهمدی اساس دسوداګری نړیوال سازمان

او ملګری ملتونو په درخواست کوونکو هیوادونو کښی داسیکوډا سیستم دپلی کیدو مسوُلیت په غاړه لری.

نوموړی سیستم تراوسه پوری دنړی په ۸۴ هیوادونو کښی دنوموړی اداری لخوا پلی سویدی. چی دافغانستان دمالیی وزارت هم دګمرکونو دکمپیوټری کولو لپاره نوموړی اداری ته وړاندی و کړ چی دادی د ۱۳۸۴هـ ل کال راپدی خوا زموږ په هیواد کښی داسیکوډا دپلی کیدا لپاره متی راغبرکی سویدی داسیکوډا سیستم ټول ګمرکی پروسیجر طی کوی لکه واردات صادارت ټرانزیټ او داسی نور دخپل پوښښ لاندی نیسی او په همدی ځیر ګمرکی اظهارلیک ،محاسبه او نوری چاری په ډیری اسانی او چټکتیا دکمپیوټر په واسطه سرته رسوی دنورو معلوماتو په خاطر داویبپاڼه وګوری:WWW.MOF.GOV.AF/TAX

داسیکوډا سیستم ګټی

۱.په ګمرکی چارو کی بیړه اسانتیا او دقت

۲.دمحصولاتو څخه دفرار مخنیوی

۳.دګمرک دمراجیعنو او دکارکوونکو د وخت دضایع کیدا مخنیوی

۴.دجعل تذاویر او سوُاستفادی مخنیوی

۵.په دولتی ادارو کی دکمپیوټر او معلوماتی ټکنالوژی دکلتور ترویج

۶.دوار داتواو سوداګریزو اطاعلاتو په اړه دقیق ارقام

۷.له ټولو ګمرکونو څخه مرکز ته دراپورنو سریع او دقیق لیږل

۸.دکمپیوټر او انټرنیټ له لاری داظهار لیکونودکول

۹.دګمرکی ارقامو او اطلاعاتو شریکولو امکان له دولتی ادارو او نورو هیوادونو سره.

ب:پرخرڅلاو او انتفاعی معاملاتو او خدماتو مالیه

مفهوم: داهغه مالیات دی چی دشیانو دخرڅلاو او دتصدیو او فعالیت ګاو څخه لاسته راځی په دی ځای کښی مالیه ورکوونکی یا مودی دولتی او حصوصی تصدی دی.

دمالیی حامل:دمالیی حاملین وروستی لګښت کوونکی یا مستهلکین دی چی پر همدی اساس دا ډول مالیه دغیر مستقیمو مالیاتو له جملی څخه ده چی دقیمتونو په لوړولو سره

مستهلکینو ته انتقالیږی داچی په دی ډول مالیه کښی ټول مصرفی شیان شامل دی نو له همدی امله دی ته مالیات پرمخارجو (لګښتونو)هم وایی.

ج:دارزښت پرزیاتوالی باندی مالیه

دارزښت پر زیاتوالی باندی مالیه دشملی پیږی له لویو ابتکاراتو له جملی څخه ده چی د ۱۹۷۰ م کال څخه وروسته پر ارزښت باندی دزیاتوالی مالیه نړاله جنبه پیداکړی پرارزښت باندی دزیاتوالی

مالیی اساس هغه ارزښت یا قیمت دی چی داموالو او خدماتو دتولید او توضیع په پروسه کښی په کار لویږی(دشیانو درانیولو او خرڅولو له تفاوت څخه لاسته راځی.

دبیلګی په توګه یو سوادګر او مه مواد په ۵۰ افغانی له یو بهرنی هیواد څخه دیو جنس د جوړولو لپاره وارداوی سوداګر نوموړی وارد سوی مواد په بازار کی په ۱۰۰ افغانی خرڅوی وروسته یو مولد له هغه څخه جنس جوړوی او نوموړی جنس په ۱۳۰ افغانی خرڅوی عمده خرڅوونکی بیا نوموړی جنس پرچون خرڅوونکی باندی په ۱۴۰ افغانی خرڅوی نو په پورته بیلګی چی هر وخت دجنس ارزښت زیاتیږی مالیه ورڅخه اخستل کیږی دی ته وایی دارزښت پر زیاتوالی باندی مالیه.

**د۱۳۸۳-۱۳۸۷هـ ل کلونو کی دافغانستان په عوایدو کی په افغانیو باندی غیر مستقیم مالیات**

| کلونو | ټوله غیر مستقیم مالیات | په مجموعی عوایدو کی دغیر مستقیمو مالیاتو ونډه په فیصدی باندی بغیر مرستو |
|---|---|---|
| ۱۳۸۳ | ۷۲۷۶۶۰۵۸۳۲ | ۵۶٪ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳۸۴ | ۱۱۱۸۸۲۴۳۴۵۳ | ۴۹٪ |
| ۱۳۸۵ | ۱۱۵۶۲۹۸۰۰۳۲ | ۳۷،۲٪ |
| ۱۳۸۶ | ۱۵۹۸۵۸۰۳۸۷۲ | ۴۴،۶٪ |
| ۱۳۸۷ | ۱۶۲۹۹۰۰۰۰۰۰ | ۳۶،۷٪ |

**لنډيز:**

دافغانستان مالياتی سيستم دمستقيمو او غير مستقيمو مالياتو څخه جوړدی مستقيم ماليات چی اکثره دانتقال قابليت نه لری دټولنيز امنيت ونډی ميراث او تحايف دملکيتونو پر انتقال باندی ماليات پرعايداتو باندی ماليات په ګټی باندی ماليه دکرايی ماليه ونډی ماليه موضوعی ماليه ثابته ماليه داسی نور په مستقيمو مالياتو کښی راځی غير مستقيم ماليات چی اکثرا دانتقال قابليت لری ګمرکی محصولات دانتفاعی معاملاتوپر خرڅلاو ماليه او پرارزښت باندی دزياتوالی ماليه پکښی شامله ده.

البته ګمرکی محصولات دغير مستقيمی ماليی په توګه دهيواد په عايداتو کښی لوی قلم جوړوی او دمستقيمو مالياتو په نسبت دعوايدو لويو برخه جوړوی.

۵.له ژوند دبيمی څخه عايد چی له مړينی وروسته ورکول کيږی.

۶. له تپ ناروغی یا دحیثیت له اعادی څخه دراپیداسویو زیانونو غرامات یا تلافی.

۷.استقراض

۸.دشرکتونو په واسطه دونډی دسندونو او پوری دسندونو له صادرولو څخه لاسته راغلی عواید.

۹.دکورنیو سهامی شرکتونو او نورو حکمی سلبولو له لاری دمنقولی او غیر منقولی شتمنی ترلاسه کول.

۱۱.له مدیونونو څخه داصل پور ترلاسه کول.

۱۲. د دولتی او ښاروالیو دپور دسندونو ګټه

۱۳.ددی قانون دحکمونو دمطابق نور ترلاسه سوی مبالغ

دغه رقم د دولتی کارکوونکو دتقاعد حقوق دمالیی وړ عواید کی نه راځی

- ممنوع الخروج شخص:

د ا.ع.م.ق ۹۴ ماده دهغه شخص په اړه څرګندونی کوی چی مالیه ورباندی پاته وی او نوموړی شخص غواړی چی له هیواد څخه ووځی.

هغه شخص چی مالیاتی او تادیاتی حسابونه یی له شل زره افغانیو څخه زیات وی او هغه یی له اړونده مراجعو سره تصفیه کړی نو

وی دهیواد څخه وتلی نسی دمالیی وزارت واکمن مقامونه کولای سی داهغه دنه وتلو په هکله اړوندو امنیتی مراجعو ته لیکلی یادښت ولیږی.

دافغانستان پر عایداتو باندی دمالیاتو قانون دځغلندی کتنی پاتی برخه:

- له ثالث شخص څخه دنه ورکړل سوی مالیی تحصیل (لاسته راوړل):

دا.ع.م.ق ۹۲ ماده یی روښانه کوی هغه مالیه چی دمودی لخوا دولت ته نه وی تادیه سوی دولت کولای سی هغه له ثالثو اشخاصو څخه هم واخلی چی هغه ثالث اشخاص په لاندی ډول دی.

۱.هغه شخص چی له مودی څخه پوروړی وی

۲.هغه شخص چی دمودی پیسی ساتی

۳.هغه شخص چی پیسی دبل شخص په نمایندگی مودی ته دوکړی په منظور ساتی.

۴.هغه شخص چی مودی ته دپیسو دورکړی لپاره دبل شخص واک لری

۵.هغه حقیقی او حکیمی شخص چی دمودی ته دمعاشونو مزدوریو او دهغو ته ورته په ورکړی مکلف وی.

- دمالیی نه ورکړ عاید:

هغه عواید چې مالیه ورڅخه نه اخستل کیږی دافغانستان پرعایداتو باندی دمالیاتوقانون یی په خپل ۱۴ ماده کښی داسی راپیژنی.

۱.د دولت لخوا بخشیسشتی تحفی انعامونه جایزی او کافات چې دبهرنیو دولتونو نړیوالو موسسُو یا غیر انتفاعی مؤسسو لخوا دعلمی هنری ادبی فعالیتونو ټولنیز پرمختګ نړیوال تفاهم دتقدیرولو په منظور ورکول کیږی.

۳.دمعلوماتو دزیاتیدو یاد کفایت او مسلکی او فنی ښوونو داصلاح او ترقی په منظور سکالرشیپونه فیلوشیپونه او نوری مرستی.

۴.دروغتیایی او ټکر (تصادم)له بیمی څخه عواید او دبیکاری دبیمی ګټی.

- دمالیی په نه ورکړه دفعالیت بندول:

دا.ع.م،ق ۹۵ ماده:

که چیری مودی مالیاتی اظهارلیک او مالیات ددی قانون دحکمونو مطابق په ټاکلی وخت وړاندی نکړی وړنکړی یایی وضع نکړی دمالیی وزارت کولای سی مودی ته دلیکلی یاددښت په ذریعه په دی اړه چی دفعالیت یو برخه یا ټول یی دایاداښت له نیټی څخه اووه ورځی وروسته بندوی خبروکړی دغه حکم دمالیی وزارت دواکمنو مقامونو دلاسلیک وورسته دمالیاتی او تادیاتی حسابونو تر بشپړی تصفیی پوری نافذ دی او امنیتی مراجع مکلف دی ددی حکم په تطبیق کی همکاری وکړی.

- شتمنی ته دمودی دلاس رسی محدودیت

دا.ع.م.ق ۹۶ ماده:

که چیری  مودی مالیاتی اظهارلیک او مالیات ددی قانون دحکمونو مطابق په
ټاکلی وخت وړاندی  نکړی وړ نکړی یایی وضع نکړی دمالیی وزارت کولای سی واکمنی محکمی ته مراجعه وکړی او دمالیاتی او تادیاتی حسابونو تر تصفیی پوری داړوندړ منقولو او غیری منقولو شتمنیو دلاس رسی محدودیت (بلاک)وغواړی.

که چیری مودی د دیرشو ورځو په موده کی خپل مالیاتی او تادیاتی وجایب اداء نکړی دمالیی وزارت کولای سی واکمنی محکمی ته مراجعه وکړی او پلورل یی وغواړی که چیری مودی دمحکمی دحکم له صادریدو مخکی خپل مکلفیتونو سرته رسولو ته حاضر سی له عدلی تعقیب څخه یی صرف نظر کیږی.

واکمنه محکمه کولای سی دشخص داموالو دپلورولو لپاره د مزایدی او داوطلبی له لاری څخه استفاده حکم وکړی.

مالیی وزارت دماحصل څخه دمودی مالیاتی تادیاتی وجایب اخلی او پاته یی هغه ته مستردوی.

- دمالیی له پېټولو څخه مخنیوی:

د ا.ع.م.ق ۹۸ ماده :

هغه اشخاص چی دخپلی مالیی دورکړی وړ عواید پټ کړی په لاندی توګه دخپل اصلی او اضافی مالیی په ورکړه مکلف کیږی.

- لومړی ځل پټه کړی سوی دورکړی وړاصلی مالیه له اضافه مالیه د دوه چنده جریمی سره.
- دویم ځل دپټی کړی سوی ورکړی اصلی مالیی سربیره اضافی مالیه د دوه چنده جریمی سره.

- مالیی معافیتونو:

لکه څنګه چی په اصطلاحاتو کی دمالیی معافیت مانا توضیع کړی ده زموږ دافغانستان پرعایداتو باندی دمالیاتو قانون هم یو شمیر مالیی معافیتونو لری چی له هغی څخه به په لاندی ډول یادونه وکړو.

۱.غیر میشت اشخاص به صورت کی له مالیی معافیت څخه ګټه اخیستی سی دغه معافیتونو دهغوی دمتبوع هیواد لخوا په باالمثل ډول په هغه هیواد کی دافغانی غیر میشتو اشخاصو لپاره اټکل سوی وی.

په دی ماناکه کوم هیواد په خپل خاوره کی افغان سوداګر یا مولیدین له مالیی څخه معاف کړی وه افغانستان هم ورته عمل څخه کار

اخلی دهغوی سوداګر یا مولدین دمالیی له ورکړی څخه معاف کوی.
د ا.ع.م.ق ۶ ماده

۲.دهغه الوتکو او دهغوی کارکوونکو له عوایدو څخه مالیه چی دافغانستان په قلمرو کی دبهرنی دولت تر بیرغ لاندی فعالیت کوی په دی شرط معاف ګڼل کیږی چی بهرنی دولت تر افغانی بیرغ لاندی الوتکو او دهغو اړوندو کارکوونکو ته په هیواد کی ورته معفیت ورکړی اتمه ماده

۳.هغه موسسات چی لاندی شرایط ولری هم دا.ع،م،ق دلسمی مادی پر اساس مالیی معافیت لری.

لومړی شرط:نوموړی موسسه دهیواد دنافذه قوانینو مطابق جوړه سوی وی.

دویم شرط:غیر انتفاعی موسسه چی یوازی دښوونیزو کلتوری ادبی او علمی یا خیریه چارو په منظور جوړه سوی وی.

دریم شرط:تمویلوونکی ونډه لرونکی او اړوند غړی یا کارکوونکی دموسسی له ګټی څخه دفعالیت یا انحلال په وخت کی ګټه وانخلی.

۴. ددولتی ادارو مالیی معافیت

دښاروالیو به شمول د دولتی ادارو او دهغوی دنماینده ګیو عواید پر عایداتو باندی دمالیاتو تابع نه دی دولتی تصدی له دی حکم څخه مستثنی دی ۱۱ ماده

۵.دغذایی موادو احتراقی موادو او دهغه جنسونو دبیی له درکه عواید چی تولیدکوونکی شخص یایی دکورنی غړو هغه په مصرف رسولی وی یایی تر ګټي اخیستنی لاندی نیولی وی پر عایداتو باندی له مالیاتو څخه معاف دی ۱۵ ماده

او داسی نور معافیتونه ذکر سویدی.

- په مالیی مسایلو کی سرغړونی او مجازات:

دافغانستان پر عایداتو باندی دمالیاتو قانون ۱۶ څپرکی هغه مجازاتو او جریمو ته ځانګړی کړی چی مودی خپله مالیه نه ورکوی یایی ځنډوی اویا اړوند اسناد یی لادرکه وی.

۱۰۰ ماده : هغه شخص چی دخپل ذمت مالیه په ټاکلی وخت ورنکړی د ورځی په سلوکی دلس (۱۰٪)اضافی مالیی په ورکولو مکلف دی.

۱۰۱ ماده :هغه مودی چی د دلیلونو پرته اړوندو معاملو سندونه او دفترونه ددی قانون دحکمونو مطابق په سمه توکه برابر خوندی او ونه ساتی یایی دمالیی وزارت دموظفینو په لاس رسی کی ورنکړی حقیقی شخص دپینځو زرو افغانیو اضافی مالیی په ورکړه او حکمی شخص دشلو زرو افغانیو اضافی مالیی په ورکړه مکلف دی.

۲.بند هغه شخص چی له مالیی څخه دتیښتی په نیت داړوند معاملو سندونه او دفترونه برابر خوندی او وساتی داضافی مالیی په ورکړه سربیره څارنوالی ته معرفی کیږی .

۱۰۲ ماده: هغه حقیقی شخص چی له موجهو دلایلو پرته اړوند مالیی اظهارلیک په ټاکلی موده کی وړاندی نکړی دهری ورځی ځنډ په وړاندی دسلو افغانیو اضافی مالیی په ورکول مکلف دی درخصتیو ورځی له دی څخه مستثنی دی.

۲بند: هغه شخص چی دمالیی څخه دتیښتی په نیت اړوند مالیاتی اظهارلیک ددی قانون دحکمونو مطابق سربیره څارنوالی ته پیژندل کیږی.

۱۰۴ ماده : هغه شخص چی له موجهه دلیل پرته وضع سوی مالیه ددی قانون دحکمونو مطابق ورنکړی ددی قانون به سلمه ماده کی ددرج سوی مالیی پرورکړه سربیره په سلو ګی دلسو اضافی مالیی پرورکړه مکلف دی

دجواز نه صادرول .

۱۰۹ ماده :۱- که چیری حقیقی یا حکمی اشخاص دخپلی غاړس د ورکړی وړ مالیه ددی قانون دحکمونو مطابق دهغه په ټاکلی وخت ورنکړی دمالیی وزارت کولاسی دهغو دسوداګریز جواز دنه نوی کولو په هکله هغو ادارو او موسسو ته چی دجواز دصادرلو واک لری خبر ورکړی .

مکلفییتونه او باقیداری

۱۱۲ماده : ۱- له (۱۳۸۱) څځه دمخه کلونو ټولو حقیقی او حکمی اشخاصو باقیداری او نور مالیی مکلفیتونه معاف دی

## سرچینی


1 - اساسی قانون (۱۳۸۲)

2 - (حکمت) سید عبدالحکیم ،مبادی حقوق

3 - (غفاری ) دکتورهادی ،پوهنتون پیام نور .مالیه عمومی وخط مشی دولتها

4 - قانون .عایدات پرمالیات

5 - قانون. گمرکات

6 - نیټ.پښتو ویپیکډیا.دمالیی مفهوم او پیژندنه

7 - ننگهار پوهنتون. درسی چپتر مالی حقوق